# د قاضیانو کتاب

## د یهودا او شمعون قبیلې له خوا د ادوني بازق نیول

۱ ۱ د یوشع له مړینې څخه وروسته د اسراییلو قوم د څښتن
څخه پوښتنه وکړه: <زمونږ کومه قبیله به اول لاړه شي او په
کنعانیانو باندې به حمله وکړي؟>

۲ څښتن په ځواب کې وویل: <اول به د یهودا قبیله لاړه شي. زه
به هغوی ته د کنعانیانو خاوره په لاس ورکړم.>

۳ د یهودا خلکو د شمعون خلکو ته وویل: <زمونږ سره هغې
سیمې ته لاړ شئ کومه چې مونږ ته راکړل شوې ده چې په ګډه د
کنعانیانو سره جګړه وکړو. بیا به مونږ ستاسو سره مرسته وکړو چې
خپله سیمه ونیسئ.> نو د شمعون ۴ او یهودا قبیلې سره یوځای
جګړې ته لاړلې. څښتن هغوی په کنعانیانو او فرزیانو باندې بریالي
کړل او هغوی په بازق کې د دښمنانو لس زره تنه ووژل. ۵ هلته
دوی ادوني بازق پیدا کړ او د هغه سره یې جګړه وکړه. ۶
ادوني بازق وتښتید. خو هغوی ورپسې شول، هغه یې ونیوه او د هغه
د پښو او لاسونو غټې ګوتې یې غوڅې کړې. ۷ ادوني بازق
وویل: <اویا پادشاهانو چې د هغوی د پښو او لاسونو غټې ګوتې
غوڅې شوې وې، زما د دسترخوان پاتې شونې یې خوړلې. اوس
خدای زما څخه د هغوی بدله واخیستله.> بیا هغوی هغه اورشلیم ته
راوست او هلته مړ شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یهودا قبیلې له خوا د اورشلیم او حبرون فتح

۸ د یهودا خلکو په اورشلیم باندې حمله وکړه او هغه یې ونیوه. د
هغه ښار خلک یې ووژل او ښار ته یې اور واچاوه. ۹ له هغې
وروسته هغوی لاړل چې د کنعانیانو سره چې په غرنی سیمه، د
غرونو په لوېدیځو لمنو او جنوبي دښته کې اوسېدل جګړه وکړي.
۱۰ هغوی د کنعانیانو په مقابل کې چې په حبرون کې اوسېدل،
ووتل. (حبرون پخوا د قریت اربع په نوم یادېده.) هلته هغوی د
شیشای، اخیمان او تلمای طایفو ته ماتې ورکړه.

## د عتنیئیل له خوا د دبیر د ښار فتح

(یوشع ۱۵: ۱۳ - ۱۹)

۱۱ له هغه ځای څخه د یهودا نفر لاړل چې په دبیر باندې حمله
وکړي. (دبیر په هغه وخت کې د قریت سفر په نوم یادېده.) ۱۲ د
هغوی یو نفر چې کالیب نومېده وویل: <هرچا چې قریت سفر فتح
کړ، زه به خپله لور عکسه هغه ته په نکاح ورکړم.> ۱۳ د کالیب د
کشر ورور قناز زوی عتنیئیل هغه ښار ونیوه، نو کالیب خپله لور هغه
ته په نکاح ورکړه. ۱۴ د واده په ورځ عتنیئیل عکسه وهڅوله چې
د خپل پلار څخه یو پټی وغواړي. کله چې عکسه له خپل خره څخه
راکوزه شوه، کالیب ورڅخه پوښتنه وکړه: <څه غواړې؟> ۱۵
هغې په ځواب کې وویل: <زه د اوبو یو ښو چینې غواړم. هغه
ځمکه چې تا راته راکړې ده هغه په جنوبي دښته کې ده.> نو کالیب
هغې ته پورتنی او ښکتنی چینې ورکړې.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د یهودا د قبیلې نور بریالیتوبونه

۱۶ د موسیٰ د خسر اولاده چې قینیان وو د اریحا یعنې د خرما د
ونو د ښار څخه د یهودا د خلکو سره د یهودا جنوبي دښتې ته چې
عراد ته نژدې پرته وه لاړل. هلته هغوی د عمالیقیانو سره اوسېدل.
۱۷ د یهودا خلک د شمعون د خلکو سره لاړل او په ګډه یې په
کنعانیانو باندې چې په صفت کې اوسېدل حمله وکړه. ښار یې په
بشپړه توګه وران کړ، نو له دې کبله یې د هغه نوم حرما کېښود. ۱۸-
۱۹ خښتن د یهودا د خلکو سره مرسته وکړه او هغوی غزه، اشقلون
او عقرون د هغو د شاوخوا سیمو سره ونیول. همدارنګه هغوی د
خښتن په مرسته غرنۍ سیمه ونیوله. خو هغو خلکو چې په دره کې
اوسېدل د اوسپنې جنګي ګاډۍ درلودلې، نو د یهودا خلکو ونه شو
کولی چې هغوی وشړي. ۲۰ لکه څنګه چې موسیٰ وعده کړې وه،
د حبرون ښار کالیب ته ورکړل شو او کالیب هغه درې طایفې چې د
عناق د اولادې څخه وې وشړلې. ۲۱ خو د بنیامین د قبیلې خلکو
یبوسیان چې په اورشلیم کې اوسېدل ونه شړل او له هغه وخت څخه
تر اوسه پورې یبوسیان د بنیامین د خلکو سره هلته اوسیږي.

## د افرایم او منسي قبیلو له خوا د بیت ئیل فتح

۲۲-۲۳ د افرایم او منسي قبیلې لاړلې چې د بیت ئیل په ښار
باندې حمله وکړي. (په پخوا زمانه کې دا ښار د لوز په نوم یادېده.)
خښتن د هغوی سره مل ؤ. هغوی ښار ته جاسوسان ولېږل ۲۴ او
هغوی یو سړی ولیده چې د ښار څخه راروان ؤ او دوی ورته وویل:
<که چېرې مونږ ته د ښار د ننوتلو لار وښایې نو مونږ به تاته زیان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ونه رسوو.> ۲۵ نو هغه سړي ورته لار وروښوده او د افرایم او
منسي خلک لاړل او د ښار ټول خلک يې ووژل، خو هغه سړی او د
هغه ټوله کورنۍ يې پرېښودله چې لاړ شي. ۲۶ بیا هغه سړی د
حیتیانو خاورې ته لاړ، هلته يې يو ښار ودان کړ او په هغه باندې يې
د لوز نوم کېښود چې تر اوسه پورې په همدې نوم يادېږي.

## هغه خلک چې اسراییلیانو نه وو شړلي

۲۷ د منسي قبیلې د بیت شان، تعنک، دور، یبلعام، مجدو او د هغو
د شاوخوا کلیو خلک ونه شړل. نو کنعانیانو هلته اوسېدلو ته دوام
ورکړ. ۲۸ کله چې اسراییلیان قوي شول، نو کنعانیان يې په سختو
کارونو باندې مجبورول، خو بیاهم هغوی يې بېخي ونه شړل.

۲۹ د افرایم قبیلې هم هغه کنعانیان ونه شړل کوم چې د جازر
اوسېدونکي وو، نو هغوی د افرایم د قبیلې په منځ کې هلته په جازر
کې پاتې شول.

۳۰ د زبولون قبیلې هم د قطرون او نهلول اوسېدونکي ونه شړل، نو
کنعانیان د هغوی په منځ کې هلته اوسېدل او مجبور وو چې د هغوی
دپاره سخت کار وکړي.

۳۱ همدارنګه د اشیر قبیلې د عکو، صیدون، احلب، اکزیب، حلبه،
عفیق او رحوب اوسېدونکي ونه شړل. ۳۲ اشیریان د ځایي
کنعانیانو په منځ کې اوسېدل، ځکه چې هغوی يې ونه شړل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۳ د نفتالي قبيلې هم د بيت شمس او بيت عنات اوسېدونکي ونه
شړل. نفتاليان د ځايي کنعانيانو په منځ کې اوسېدل. خو هغوی د دې
دوو ځايونو اوسېدونکي په سخت کار کولو مجبورول.

۳۴ اموريانو د دان د قبيلې خلک مجبور کړل چې غرنۍ سيمې ته
لاړ شي او هغوی يې نه پرېښودل چې درې ته راښکته شي. ۳۵
اموريانو په ايالون، شعلبيم او د حارس په غره کې اوسېدلو ته دوام
ورکړ، خو د افرايم او منسي قبيلو هغوی تر خپلې واکمنۍ لاندې
ساتل او په سخت کار کولو يې مجبورول.

۳۶ د اموريانو سرحد د عقربيم د غاښي څخه نيولې تر سالع او
غرنۍ سيمې پورې رسېدلی دی.

## په بوکيم کې د څښتن فرښته

۲ ۱ د څښتن فرښته د جلجال څخه بوکيم ته لاړه او اسراييليانو
ته يې وويل: >ما تاسو د مصر څخه راوويستلئ او هغې خاورې ته
مې راوستلئ چې ستاسو د نيکونو سره مې د هغې وعده کړې وه. ما
وويل چې زه به هيڅکله ستاسو سره خپل لوظ مات نه کړم، ۲ نو
تاسو د دغې خاورې د خلکو سره کوم لوظ ونه کړئ او د هغوی د
قربانۍ ځايونه راوغورزوئ. خو څه چې ما درته ويلي وو تاسو هغه
ونه کړل. ولې مو داسې وکړل؟ ۳ نو اوس تاسو ته وايم چې زه به
دا خلک ستاسو له مخې څخه لېرې نه کړم. هغوی به ستاسو دښمنان
وي او د هغوی د خدايانو په عبادت کولو سره به د هغوی په دام کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راګېر اوسئ.> ۴ کله چې د ښښتن فرښتې دا خبرې وکړې، نو د
اسراييلو ټول قوم په لوړ اواز سره وژړل، ۵ نو په دې خاطر دوی
په هغه ځای باندې د بوکيم نوم کېښود او هلته يې ښښتن ته قرباني
وړاندې کړې.

## د يوشع مړينه

۶ وروسته له هغې چې يوشع اسراييليان رخصت کړل، دوی هر
يو لاړ چې د خپلې برخې ځمکې ملکيت ترلاسه کړي. ۷ ترڅو
پورې چې يوشع ژوندی ؤ، د اسراييلو خلک ښښتن ته وفادار وو او
حتیٰ د هغه د مړينې څخه وروسته هم ترڅو پورې چې د قوم هغه
سپين ږيري ژوندي وو کومو چې د ښښتن هغه لوی لوی کارونه په
خپلو سترګو ليدلي وو چې د اسراييلو دپاره يې کړي وو، هغوی
ښښتن ته وفادار پاتې شول. ۸ د ښښتن خدمتګار يوشع د نون
زوی د يو سلو لسو کالو په عمر مړ شو. ۹ هغه يې په خپله
ځمکه کې په تمنه حارس کې چې د افرايم په غرنی سيمه کې او د
جاعش د غره په شمال کې وه، ښخ کړ.

## د اسراييليانو له خوا د ښښتن د عبادت پرېښودل

۱۰ کله چې هغه ټول نسل مړ شو، نو راتلونکي نسل ښښتن او د
هغه کارونه چې د اسراييلو دپاره يې کړي وو هېر کړل.

۱۱ څه موده وروسته اسراييليانو د ښښتن په مقابل کې ګناه وکړه او
د بعل د بتانو په عبادت يې پيل وکړ. ۱۲ هغوی د هغه ښښتن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عبادت کول پرېښودل چې د دوی د نیکونو خدای ؤ او دوی یې د
مصر څخه راویستلي وو. دوی د خپل شاوخوا خلکو خدایانو ته
عبادت کاوه. هغوی ته یې سجده کوله او څښتن یې په قهر کړ. ۱۳
هغوی څښتن پرېښود او د بعل او عشتاروت د بتانو عبادت یې غوره
کړ. ۱۴ نو څښتن په اسراییلو باندې ډېر په قهر شو او هغوی یې
یرغلګرو ته په لاس ورکړل او یرغلګرو هغوی لوټ کړل. څښتن
دوی خپلو دښمنانو ته تسلیم کړل او اسراییلیانو نور نه شو کولی چې
د هغوی په مقابل کې مقاومت وکړي. ۱۵ هر ځل چې اسراییلیان د
جګړې دپاره وتل، څښتن د هغوی په ضد عمل کاوه چې ماتې
وخوري ځکه چې هغه دوی ته قسم خوړلی ؤ چې دا کار به کوي.
هغوی په لوی مصیبت اخته شوي وو.

۱۶ بیا څښتن اسراییلیانو ته خاص مشران چې د قاضیانو په نوم
هم یادېدل ورکړل چې هغوی له یرغلګرو څخه وژغوري. ۱۷ خو
اسراییلیانو خپلو مشرانو ته غوږ نه نیوه. اسراییلو د څښتن سره بې
وفايي کوله او د نورو خدایانو عبادت به یې کاوه. د هغوی پلرونو به
د څښتن امرونو ته غاړه اېښودله خو نوي نسل ژر دا کار پرېښود.
۱۸ هرکله چې څښتن اسراییلو ته یو مشر ورکاوه، څښتن به د هغه
مشر سره مرسته کوله او ترڅو پورې به چې هغه مشر ژوندی ؤ
خلک به یې د خپلو دښمنانو څخه ژغورل. څښتن په هغوی باندې
رحم کاوه ځکه چې هغوی به د ظلم او کړېدلو له لاسه فریاد کاوه.
۱۹ خو کله به چې هغه مشر مړ شو، خلک به بېرته خپلو بدو لارو
ته راګرځېدل او د خپلو نیکونو څخه به یې نور هم زیات فساد کاوه.
د نورو خدایانو پیروي او عبادت به یې کاوه. دوی به خپل بد عملونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او سرزوري نه پرېښودله. ۲۰ نو بیا څښتن په اسراییلو باندې ډېر
په قهر شو او ویې ویل: <په دې خاطر چې دې قوم هغه لوظ مات
کړی دی چې د هغوی د نیکونو سره مې کړی ؤ او زما امر یې نه دی
منلی، ۲۱ نو زه به نور هغه قومونه چې د یوشع د مړینې څخه
وروسته پاتې شوي وو ونه شړم. ۲۲ زه به د هغوی څخه کار
واخلم ترڅو دا معلومه شي چې دا اسراییلیان د خپلو پلرونو په شان
زما په لاره باندې روان دي او که نه.> ۲۳ نو څښتن هغه قومونه
پرېښودل چې په هغې خاوره کې پاتې شي. هغه یوشع ته په هغوی
باندې بری ورنه کړ او نه یې د یوشع د مړینې څخه وروسته هغوی
ژر وشړل.

## د کنعان په خاوره کې پاتې شوي قومونه

۳ ۱ نو څښتن په کنعان کې ځینې قومونه پرېښودل چې د
هغوی په وسیله هغه اسراییلیان وازمایي چې د کنعان په جګړو کې
یې برخه نه وه اخیستې. ۲ هغه د دې دپاره دا کار وکړ چې د
اسراییلو هر نوی نسل باید دا زده کړي چې څنګه جګړه وکړي، په
خاصه توګه هغه خلک چې مخکې د جګړې ډګر ته نه وو تللي.
۳ هغه قومونه چې په دې خاوره کې پاتې شوي وو دا وو: هغه
فلسطینیان چې په پنځو ښارونو کې وو، ټول کنعانیان، صیدونیان او
همدارنګه حویان چې د لبنان په غرونو کې د بعل حرمون څخه نیولې
د حمات تر غاښې پورې اوسېدل. ۴ څښتن دا خلک د دې دپاره
پرېښي وو چې اسراییلیانورباندې وازمایي او وګوري چې آیا هغوی
د څښتن هغو امرونو ته چې د موسیٰ په وسیله د هغوی نیکونو ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړل شوي وو غاړه ږدي او که نه. ۵ نو اسراییلیان د کنعانیانو،
حیتیانو، اموریانو، فرزیانو، حویانو او یبوسیانو په منځ کې اوسېدل.
۶ دوی د هغوی لورګانې خپلو زامنو ته په نکاح کولې او خپلې
لورګانې يې د هغوی زامنو ته په نکاح ورکولې او د هغوی د خدایانو
عبادت به يې کاوه.

## عتنیئیل

۷ د اسراییلو قوم خپل څښتن خدای هېر کړ. دوی د هغه په
مقابل کې ګناه وکړه او د بعل او اشیره د بتانو عبادت يې کاوه. ۸
نو څښتن په اسراییلو باندې ډېر په قهر شو او هغوی يې د
بین النهرین پادشاه کوشان رشعتایم ته په لاس ورکړل او هغه اته کاله
په هغوی باندې حکومت وکړ. ۹ بیا اسراییلیانو څښتن ته فریاد
وکړ، هغه ورته د کالیب د کشر ورور قناز زوی عتنیئیل راولېږه چې
هغوی وژغوري. ۱۰ د څښتن روح په هغه باندې نازل شو او هغه
د اسراییلو مشر شو. عتنیئیل جګړې ته لاړ او څښتن هغه د
بین النهرین په پادشاه کوشان رشعتایم باندې بریالی کړ. ۱۱ د
اسراییلو په خاوره کې څلوېښت کاله ارامي وه او وروسته بیا عتنیئیل
مړ شو.

## ایهود

۱۲ د اسراییلو خلکو بیا داسې کارونه وکړل چې د څښتن په نظر
کې بد وو. د هغوی د بدیو له کبله څښتن عجلون د موآب پادشاه د
اسراییلو په مقابل کې قوي کړ. ۱۳ عجلون د عمونیانو او عمالیقیانو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره یو ځای شو. عجلون راغی او په اسراییلو باندې یې حمله وکړه
او هغوی اریحا یعنې د خرما د ونو ښار ونیو. ۱۴ د موآب پادشاه
عجلون په اسراییلیانو باندې اتلس کاله حکومت وکړ.

۱۵ بیا اسراییلیانو څښتن ته فریاد وکړ. هغه دوی ته یو نفر ورولېږه
چې دوی وژغوري. د هغه نوم ایهود ؤ چې چپ لاسی ؤ او د جیرا
زوی ؤ چې د بنیامین د قبیلې څخه ؤ. اسراییلیانو د هغه په لاس د
موآب پادشاه عجلون ته باج ولېږه. ۱۶ ایهود یوه دوه مخې توره
جوړه کړې وه چې نیم متر اوږده وه. هغه دا توره د خپلو کالیو لاندې
په خپل ښي ورون باندې وتړله. ۱۷ هغه د موآب پادشاه عجلون ته
چې ډېر چاغ سړی ؤ باج وړاندې کړ. ۱۸ کله چې ایهود هغه ته
باج وړاندې کړ، هغه دا نفر چې باج یې انتقال کړی ؤ ببرته خپلو
کورونو ته ولېږل. ۱۹ خو ایهود په خپله د هغو مجسمو سره چې
جلجال ته نژدې وې راوګرځېده، ببرته پادشاه ته ورغی او ورته ویې
ویل: <ای پادشاه زه ستاسو دپاره یو پټ پیغام لرم.>

پادشاه خپلو خدمتګارانو ته وویل: <مونږ یوازې پرېږدئ!> او
هغوی ټول ووتل.

۲۰ په داسې حال کې چې پادشاه په خپلې هواداره بالاخانه کې
یوازې ناست ؤ، ایهود هغه ته ورغی او ورته ویې ویل: <زه ستاسو
دپاره د خدای له طرفه یو پیغام لرم.> پادشاه پاڅېده. ۲۱ ایهود په
خپل چپ لاس باندې د خپل ښي اړخ څخه توره راوویستله او د
پادشاه په ګېډه کې یې ورومنډله. ۲۲ توره د لاستې سره د هغه په
ګېډه کې ننوته او د پښو له منځ څخه یې راووتله. ایهود د هغه د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګېډې څخه توره ونه ویستله او د هغه په وازګه کې پټه شوه. ۲۳ بیا
ایهود برنډې ته ووت. هغه پادشاه پسې د کوټې دروازې بندې او قلف
کړې. ۲۴ د ایهود د تګ څخه وروسته د پادشاه خدمتګاران راغلل
او وېې لیدل چې د کوټې دروازې قلف دي. هغوی فکر کاوه چې
پادشاه به دننه خپل حاجت پوره کوي. ۲۵ هغوی زیات انتظار
وویست، تر هغې پورې چې وارخطا شول. خو کله چې هغه د کوټې
دروازې خلاصې نه کړې، هغوی کلي واخیسته او دروازې یې
خلاصې کړې. هغوی ولیدل چې بادار یې په غولي باندې مړ پروت
دی.

۲۶ په هغه وخت کې چې هغوی انتظار کاوه، ایهود وتښتېده. هغه د
مجسمو څخه تېر شو او سعیرت ته ورسېده. ۲۷ کله چې ایهود د
افرایم غرنۍ سیمې ته ورسېده، نو سرنۍ یې وواهه او اسراییلیان د
هغه سره د غونډیو څخه راکوز شول او هغه یې مشري کوله. ۲۸
هغوی ته یې وویل: <ما پسې راځئ! ځکه چې څښتن ستاسو دښمن
یعنې موآب تاسو ته تسلیم کړی دی.> نو دوی د هغه پسې روان
شول او د اردن ګودرونه یې چې موآب ته د تېرېدلو لاره وه ونیول او
څوک یې نه پرېښودل چې له هغو څخه تېر شي. ۲۹ په هغه ورځ
هغوی د موآبیانو نژدې لس زره تکړه عسکر ووژل، هیڅ وانه شو
کولی چې وتښتي. ۳۰ نو اسراییلیانو موآبیانو ته ماتې ورکړه او د
اسراییلو په خاوره کې اتیا کاله ارامي وه.

**شمجر**

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٣١ د ايهود څخه وروسته شمجر د عنات زوی مشر شو. هغه په
چوکه باندې شپږسوه فلسطينيان ووژل او اسراييليان يې ورڅخه
وژغورل.

## دبوره

۴ ١ د ايهود له مړينې څخه وروسته د اسراييلو خلکو بيا داسې
کارونه وکړل چې د څښتن په نظر کې بد وو. ٢ نو څښتن هغوی
يابين ته چې د کنعان يو پادشاه ؤ او په حاصور کې يې پادشاهي
کوله په لاس ورکړل. د هغه د لښکر قوماندان سيسرا ؤ چې په
حروشت حاجوئيم کې اوسېده. ٣ يابين نهه سوه د اوسپنې جنګي
ګاډۍ درلودلې او شل کاله يې په اسراييلو باندې سخت ظلم وکړ، نو
اسراييليانو د مرستې دپاره خدای ته فرياد وکړ.

٤ په هغه وخت کې دبوره د لفيدوت ښځه پيغمبره وه او د قاضي
په توګه يې د اسراييلو خدمت کاوه. ٥ هغه به د خرما د يوې ونې
لاندې چې د دبورې په نوم يادېدله او د رامه او بيت ئيل ترمنځ د
افرايم په غرنۍ سيمه کې وه کښېناستله. اسراييليان به د خپلو دعوو د
فيصله کولو په خاطر هغې ته راتلل. ٦ يوه ورځ هغې باراق د
ابينوعم زوی چې د نفتالي په قادش کې اوسېده راوغوښت او ورته
ويې ويل: <د اسراييلو څښتن خدای په تا باندې امر کوي چې لاړ
شې او د نفتالي او زبولون د قبيلو څخه لس زره نفر د ځان سره
واخلې او د تابور غره ته يې بوځې. ٧ زه به د يابين د لښکر
قوماندان سيسرا راولم چې د قيشون د سيند په غاړه ستاسو سره

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جګړه وکړي. د هغه سره به خپلې جنګي ګاډۍ او عسکر وي، خو زه به هغه تاته تسليم کړم.>

۸ بيا باراق هغې ته ووېل: <که چېرې ته زما سره ځې نو زه به لاړ شم او که چېرې ته راسره نه ځې، زه به هم لاړ نه شم.>

۹ دبورې ووېل: <ډېر ښه، زه به ستا سره لاړه شم، خو دا ياد ساته چې که چېرې زه ستا سره لاړه شم او سيسرا مغلوب شي، نو ته به د دې برياليتوب په خاطر هيڅ وياړ ترلاسه نه کړې، ځکه چې څښتن به سيسرا يوې ښځې ته تسليم کړي.> نو دبوره له باراق سره قادش ته لاړه. ۱۰ باراق د زبولون او نفتالي د قبيلو خلک قادش ته راوغوښتل. لس زره نفره په هغه ځای کې سره راغونډ شول او باراق پسې روان شول. دبوره هم ورسره لاړه.

۱۱ په هغه وخت کې حابر چې د قينيانو له طايفې څخه ؤ، ځان يې د نورو قينيانو څخه چې هغوی هم د حوباب له اولادې څخه وو، بېل کړی ؤ او خپله خېمه يې قادش ته نژدې په صعنايم کې د څېړۍ د ونې په څنګ کې ودرولې وه. (حوباب د موسیٰ د ښځې ورور ؤ.)

۱۲ کله چې سيسرا خبر شو چې باراق د تابور غره ته تللی دی، ۱۳ هغه خپلې ټولې نهه سوه جنګي ګاډۍ او خپل ټول نفر راوغوښتل او هغوی له حروشت حاجوئيم څخه د قيشون د سيند خواته روان شول.

۱۴ بيا دبورې باراق ته ووېل: <لاړ شه! دا هغه ورځ ده چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ثښتن به سیسرا تاته تسلیموي. ثښتن ستاسو په مخکې روان دی.>
نو باراق د خپلو لسو زرو نفرو سره د تابور له غره ښخه راکوز شو.
۱۵ کله چې باراق د خپل لښکر سره حمله وکړه، ثښتن سیسرا د
خپلو ټولو جنګي ګاډیو او نفرو سره وارخطا کړ. سیسرا له خپلې
ګاډۍ ښخه کوز شو او وتښتېده. ۱۶ باراق تر حروشت حاجوئیم
پورې د جنګي ګاډیو او لښکرو پسې شو او د سیسرا ټول لښکر
ووژل شو. یو نفر هم ژوندی پاتې نه شو.

۱۷ سیسرا د یاعیل یعنې د قیني حابر د ښځې خېمې ته
وروتښتېده، ځکه چې د حاصور د پادشاه یابین او د قیني د طایفې
ترمنځ دوستانه اړیکې موجودې وې. ۱۸ یاعیل د سیسرا هرکلي ته
ورغله او ورته ویې ویل: <دننه راځه زما باداره، مه وېرېږه.> نو
سیسرا د هغې خېمې ته ورننوت او یاعیل هغه په بړستن کې پټ کړ.
۱۹ سیسرا هغې ته وویل: <زه تږی یم ماته لږې اوبه راکړه.>
هغې د شیدو ژی خلاص کړ او لږې شیدې یې ورته ورکړې او هغه
یې بېرته پټ کړ. ۲۰ سیسرا هغې ته وویل: <د خېمې په دروازه
کې ودرېږه، که چېرې ښوک راشي او پوښتنه وکړي چې دلته ښوک
شته؟ ورته ووایه، نه.>

۲۱ سیسرا ډېر ستړی شوی ؤ او په درانده خوب ویده شو. بیا
یاعیل د حابر ښځې د خېمې یو مېخ او ښټک راواخیستل او غلې
غلې سیسرا ته ورغله. هغې دا مېخ د هغه په شقیقه باندې داسې ټک
واهه چې سر یې په ځمکه کې ننوت او سیسرا مړ شو. ۲۲ کله چې
باراق د سیسرا د لټولو دپاره راغی، نو یاعیل د هغه مخې ته ورغله او
ویې ویل: <راځه چې هغه سړی دروښایم چې ته یې لټوې.> نو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باراق د هغې سره خېمې ته ننوت او هلته سیسرا په داسې حال کې
چې مېخ يې په سر کې ننوتی ؤ، مړ پروت ؤ.

٢٣ نو په هغه ورځ خدای اسراییلیانو ته د کنعان په پادشاه یابین
باندې بری ورکړ. ٢۴ له هغې ورځې څخه وروسته اسراییلیان د
یابین په مقابل کې قوي کېدل، ترڅو چې هغه يې له منځه یووړ.

## د باراق او دبورې سندره

**۵** ١ په هغه ورځ دبورې او د ابینوعم زوی باراق دا سندره
وویله:

٢ «د څښتن ستاینه وکړئ!

چې مشري د اسراییلو رهبران کړي

او په خوښۍ سره خلک پیروي د هغوی کاندي

٣ تاسې واورئ پادشاهانو وکړئ پام ای حاکمانو

غږومه به زه ساز وایم به سندره

اسراییلو څښتن خدای ته

۴ کله لاړې د سعیره نه چې څښتنه

چې راووتې د سیمې له ادومه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځمکه په لړزه شوه له اسمانه باران راغی

هو اوبه شولې راتوی د ورېځو ځنی

۵ غرونه په لړزه شول د سینا د څښتن مخ کې

د څښتن د اسراییلو خدای په مخ کې

۶ د عنات د زوی شمجر په زمانه کې

د یاعیل په زمانه کې

سرکونه خطرناک وو کاروانو ته

مسافر په کږو لارو باندې تلل

۷ ای دبورې، د اسراییلو کلي وران پاتې شول

ستا تر راتګه پورې تش پاتې شول

د یوې مور په شان ته راغلې اسراییلو لره

۸ کړل اسراییلو کله غوره چې خدایان نوي

بیا په دې خاوره باندې جنګ راغی

د څلوېښت زرو اسراییلو منځ کې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

یوه نېزه او یا یو سپر هم نه ؤ

٩ زه د اسراییل د قوماندې د مشرانو طرفدار یمه

د هغو خلکو په خوا چې حاضر شوي دي په خپله خوښه

د څښتن ستاینه وکړئ!

١٠ واورئ ای کسانو چې سپرېږئ په ښو خرو باندې

او کښېنئ په کټو باندې

او هم هغو کسانو چې پیاده ګرځئ

١١ د سندرغاړو اوازونه ګودرو کې واورئ

بیانوي چې د څښتن فتحې

فتحې د قوم د اسراییلو فتحې

بیا د څښتن قوم ښکته روان شو

په طرف د دروازو یې د ښارګوټې

١٢ شه راویښه، شه راویښه، دبورې!

شه راویښه په سندره کړه لاس پورې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ای باراقه، ای ته زوی د ابینوعمه

پاڅه بوځه اسیران درسره خپل دي

۱۳ بیا چې کوم خلک پاتې شوي وو

شو دوی راکوز خپلو مشرانو ته

د ښبتن قوم ماته راغی چې جګړې ته اماده ؤ

۱۴ راغلل هغوی لاندې درې ته له افرایمه څخه

د بنیامین او د هغوی د خلکو پسې

له ماخیر څخه راکوز قوماندانان شول

منصبداران له زبولونه راغلل

۱۵ د دبورې سره مشران د یساکار راغلل

هو، یساکار او هم باراق راغی

دوی شول په منډه په دره کې د باراق پسې

خو د روبین په قبیله کې شو پیدا نفاق

پرېکړه یې ونه شوه کولی چې دوی راشي که نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ خپلو پسونو سره ولې تاسو پاتې شولئ
چې غوږ ونیسئ شپنو ته چې رمو ته اوازونه کاندي؟
هو، د روبین په قبیله کې شو پیدا نفاق
پرېکړه یې ونه شوه کولی چې دوی راشي که نه
۱۷ قبیله د جاد شوه پاتې د اردن د سیند ختیځ کې
او قبیله د دان شوه پاتې د کشتیو سره
قبیله د اشیر پاتې شوه په غاړه د دریاب کې
بندرونو ته نژدې هغوی ساکن شول
۱۸ خو د زبولون او نفتالي خلکو
د جنګ میدان کې خپل ژوندون خطر کې واچاوه
۱۹ پادشاهان راغلل، په تعنک کې د مجدو د ویالې څنګ کې
هغوی وکړله جګړه
د کنعان شاهانو وکړله جګړه
خو هغوی سپین زر یونوړل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ ستورو کوله چې جګړه د اسمانونو څخه

چې په اسمان کې ګرځېدل به هغوی يو خوا بل خوا

د سيسرا په ضد هغوی جګړه کوله

۲۱ دښمنان له منځه يوړل د قيشون سيلاب

د قيشون څپې وهونکي سيند

ای زما ځانه، روانېږه او قوي اوسه

۲۲ د سيسرا اسونه تلل ښه په ترپکو باندې

ځمکه يې چيته کړله خپلو سومانو باندې

۲۳ د ښښتن فرښته وايي: په ميروز لعنت ووايئ

د هغه ځای په اوسېدونکو سخت لعنت ووايئ

ځکه چې دوی د ښښتن مرستې ته راغلي نه دي

چې د غښتليو جنګياليو مقابله کې د ښښتن سره کومک وکړي

۲۴ ډېره بختوره ده ياعيل

ښوک چې ده ښځه د حابر قيني

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زيات برکت دي هغه ومومي تر ټولو ښځو

چې په خېمو کې اوسي

۲۵ سيسرا وغوښتې اوبه خو هغې ورکړې شيدې

په شاهانه جام کې يې ورکړې شړومبې

۲۶ هغې واخيست په يو لاس کې د خېمې مېخ

او په بل لاس کې يې ښتک د مزدور

هغې ووهه سيسرا او کړه ورماته يې کوپړئ

او شقيقه يې کړه سورئ د هغه

۲۷ سيسرا ولوېدلو پښو ته د هغې

هغه وغورزېد او هلته پروت ؤ

هغه وغورزېده پښو ته د هغې او ولوېد

هغه په ځمکه باندې مړ پرېوت

۲۸ د سيسرا مور د کړکئ نه وکتل

په ځير ځير يې د جالئ له شا کتل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغې وکړله پوښتنه: په راتلو کې د هغه جنګي ګاډۍ ولې ځنډ
وکړ؟

ولې نه اورو اواز د ګاډۍ د عرابو؟

۲۹ پوهې ملګرې د هغې ورته ځواب ورکوي

تکراروي هغه له ځانه سره دا خبرې:

۳۰ هغوی نيولی غنيمت او هغه ويشي سره

يوه نجلۍ يا دوه انجونې هر عسکر دپاره

رنګين لباس سيسرا دپاره

ګلدوزي شوې ټوټې زما غاړې ته

۳۱ ای څښتنه! دښمنان دې ستا هلاک شي د سيسرا په ډول
ټول

خو دوستان دې ستا ځليږي د روښانه لمر په شان>

له هغې وروسته په هغه خاوره کې څلويښت کاله ارامي وه.

## جدعون

۶ ۱ د اسراييلو قوم يو ځل بيا داسې کارونه وکړل چې د څښتن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په نظر کې بد وو، نو څښتن د مديانيانو قوم پرېښود چې په هغوی
باندې اووه کاله حکومت وکړي. ۲ مديانيان دومره ظالمان وو
چې د اسراييلو خلک د هغوی څخه په سمڅو او د غونډيو په نورو
خوندي ځايونو کې پټېدل. ۳ هرکله چې به اسراييليانو خپل
فصلونه کرل، نو مديانيان، عماليقيان او د دښتې د قبيلو خلک به
راتلل او په هغوی باندې به يې حمله کوله. ۴ دوی په هغه ځمکه
کې خېمې ودرولې او د ځمکې حاصلات به يې تر غزې پورې له
منځه وړل. له هغوی څخه به يې ټول پسونه، غوايان او خره بيول او
د اسراييليانو دپاره يې هيڅ شی نه پرېښود چې ژوند ورباندې وکړي.
۵ هغوی به د خپلو څارويو او خېمو سره لکه د ملخانو په شان
راتلل. هغوی او د هغوی د اوښانو شمېر دومره زيات ؤ چې حساب
يې نه شو کېدلی. دوی به راتلل او ځمکه به يې ويجاړوله ۶ او
اسراييليان د هغوی په مقابل کې بې وسه شول.

۷ نو د اسراييلو قوم د مديانيانو په ضد څښتن ته د مرستې دپاره
فرياد وکړ ۸ او هغه ورته يو پيغمبر راولېږه چې هغوی ته يې د
اسراييلو د څښتن خدای له خوا دا پيغام راوړ: <ما تاسو د مصر يعنې
د هغه هېواد څخه چې په کې غلامان وئ، راوويستلئ. ۹ تاسو
مې د مصريانو او هغو ټولو خلکو څخه چې په دې خاوره کې يې په
تاسو باندې ظلم کاوه وژغورلئ. هغوی مې ستاسو له مخې څخه
لېرې کړل او د هغوی ځمکه مې تاسو ته درکړه. ۱۰ تاسو ته مې
وويل چې زه ستاسو څښتن خدای يم او که څه هم تاسو د اموريانو
په خاوره کې اوسېږئ، مګر د هغو د خدايانو عبادت مه کوئ. خو
تاسو زما خبرو ته غوږ ونه نيوه.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ یوه ورځ د ښښتن فرښته د عفره کلي ته راغله او د څېړۍ د
ونې لاندې چې د یوآش ابیعزري ونه وه کښېناستله. د یوآش زوی
جدعون په پټه د شرابو په ګانۍ کې غنم ټکول چې مدیانیان یې ونه
ویني. ۱۲ په هغه ځای کې د ښښتن فرښته جدعون ته ښکاره شوه
او ویې ویل: <ای زړور او قوي سړیه، ښښتن ستا سره مل دی.>

۱۳ جدعون په ځواب کې وویل: <خو ښاغلیه، که چېرې ښښتن
له مونږ سره مل وي، نو دا هرڅه ولې زمونږ سره وشول؟ څه شولې د
هغه حیرانوونکې معجزې د کومو په هکله چې به زمونږ پلرونو مونږ
ته قصې کولې او داسې به یې ویل چې ښښتن څنګه مونږ له مصر
څخه راوویستلو؟ خو اوس یې مونږ پرېښې یو او مدیانیانو ته یې په
لاس ورکړي یو.>

۱۴ بیا ښښتن هغه ته مخ وروااړاوه او ویې ویل: <په خپل ټول
قوت سره چې لرې یې، لاړ شه او اسراییلیان له مدیانیانو څخه
وژغوره. زه په خپله تا لېږم.>

۱۵ جدعون په ځواب کې وویل: <خو ښښتنه، زه څنګه کولی شم
چې اسراییلیان وژغورم؟ د منسي په قبیله کې زما کورنۍ له ټولو
څخه کمزورې ده او زه په خپله کورنۍ کې له ټولو څخه وړوکی نفر
یم.>

۱۶ ښښتن په ځواب کې وویل: <ته دا کار کولی شې ځکه چې زه
به له تا سره مرسته وکړم. ته به مدیانیانو ته داسې په اسانۍ سره ماتې
ورکړې لکه د یو نفر سره چې جنګ کوې.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ جدعون وویل: <که چېرې ته په رښتیا سره غواړې چې زما
سره مرسته وکړې، نو ماته یوه نښه وښایه چې دا ثابته کړي چې په
رښتیا څښتن زما سره خبرې کوي. ۱۸ مهرباني وکړه زما د راتګه
پورې همدلته اوسه چې زه خپله نذرانه راوړم او ستا په حضور کې
یې کېږدم.>

څښتن وویل: <زه به ستا د بېرته راتګ پورې دلته پاتې شم.>

۱۹ جدعون کور ته ننوت او یو سېرلی یې حلال کړ. د هغه غوښه
یې پخه کړه، لس کیلوګرامه اوړه یې راواخیستل او فطیره ډوډۍ یې
ورڅخه پخه کړه. بیا هغه غوښه په یوه ټوکرۍ کې واچوله، د هغې
ښوروا یې هم په یوه کاسه کې واچوله، د څښتن فرښتې ته یې چې د
څېړۍ د ونې لاندې ناسته وه راوړه او د هغې په مخ کې یې کېښودله.
۲۰ فرښتې هغه ته وویل: <دا غوښه او ډوډۍ راواخله او په دې
ګټ باندې یې کېږده او ښورواورباندې توی کړه.> او جدعون
همداسې وکړل. ۲۱ د څښتن فرښتې د امسا په څوکې باندې چې
په لاس کې یې وه غوښه او ډوډۍ لمس کړه. د ګټ څخه د اور لمبه
پورته شوه او غوښه او ډوډۍ یې وسوزوله. وروسته بیا فرښته پناه
شوه.

۲۲ کله چې جدعون پوه شو چې دا د څښتن فرښته وه، هغه له
وېرې وویل: <ای څښتن تعالیٰ! ما ستا فرښته مخامخ ولیدله.>

۲۳ خو څښتن هغه ته وویل: <ارام شه. مه وېرېږه. ته به نه مړ
کېږې.> ۲۴ جدعون د څښتن دپاره د قربانۍ ځای جوړ کړ او دا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نوم يې ورباندې کېښود چې <ښتن د سولې او سلامتۍ سرچينه ده>. او تر اوسه پورې هغه د ابيعزريانو د عفره په کلي کې پاتې دی.

۲۵ په هماغه شپه ښتن جدعون ته وويل: <د خپل پلار د پادې څخه دې يو غويی چې اووه کلن وي بوځه. او د خپل پلار د قربانۍ ځای چې د بعل دپاره دی، وران کړه او د اشيره بت چې د هغه په څنګ کې دی راوغورزوه. ۲۶ بيا خپل ښتن خدای ته ستاسو د کلي د غونډۍ په ډېر لوړ ځای باندې د قربانۍ يو مناسب ځای جوړ کړه. د اور دپاره د اشيره د بت د لرګيو څخه کار واخله او هغه غويی حلال کړه او د سوزېدونکې نذرانې په توګه يې ورباندې کړه.> ۲۷ نو جدعون د خپلو نوکرانو څخه لس نفره له ځان سره بوتلل او د ښتن په خبره باندې يې عمل وکړ. نو څرنګه چې هغه د خپلې کورنۍ او د کلي د نورو خلکو څخه وېرېده چې د ورځې له خوا دا کار وکړي نو هغه کار يې د شپې له خوا وکړ.

۲۸ کله چې سبا سهار وختي د کلي خلک پاڅېدل، هغوی وليدل چې د بعل د قربانۍ ځای وران شوی ؤ او د اشيره بت چې د هغه په څنګ کې ؤ راغورزېدلی ؤ او غويی د قربانۍ په نوي ځای کې قرباني شوی ؤ. ۲۹ هغوی د يو بل څخه پوښتنه وکړه: <دا کار چا کړی دی؟> کله چې هغوی د دې خبرې څېړنه وکړه، نو معلومه شوه چې جدعون د يوآش زوی دا کار کړی دی. ۳۰ نو د کلي خلکو يوآش ته وويل: <خپل زوی راوباسه. هغه بايد ووژل شي، ځکه چې هغه د بعل د قربانۍ ځای وران کړی دی او د اشيره بت چې د هغه په څنګ کې ؤ هغه يې راغورزولی دی.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۱ مګر یوآش هغو ټولو خلکو ته چې د هغه مخالف وو ووېل:
<آیا تاسو د بعل دپاره دا بحث کوئ؟ آیا تاسو د هغه څخه دفاع
کوئ؟ هرڅوک چې د هغه دپاره جګړه کوي هغه به تر سبا سهاره
پورې وژل کیږي. که چیرې هغه خدای وي پرېږدئ چې هغه د خپل
ځان ساتنه وکړي، دا د هغه د قربانۍ ځای دی چې وران شوی
دی.> ۳۲ له هغه وخت څخه راپدېخوا جدعون د یربعل په نوم
مشهور شو، ځکه چې یوآش ووېل: <پرېږدئ چې بعل د خپل ځان
څخه دفاع وکړي، ځکه چې دا د هغه د قربانۍ ځای دی چې وران
شوی دی.>

۳۳ بیا ټول مدیانیان، عمالیقیان او د دښتې د قبیلو خلک سره
راټول شول، هغوی د اردن د سیند څخه تېر شول او د یزرعیل په دره
کې یې خیمې ودرولې. ۳۴ په جدعون باندې د څښتن روح نازل
شو او هغه سرنی وواهه او د ابیعزر د طایفې خلک یې راوغوښتل او
هغوی د جدعون پسې روان شول. ۳۵ جدعون د منسي ټولې
سیمې ته استازي ولېږل چې راشي او د هغه سره یوځای شي.
همدارنګه هغه د اشیر، زبولون او نفتالي قبیلو ته هم استازي ولېږل او
هغوی راغلل او د جدعون سره یوځای شول.

۳۶ بیا جدعون خدای ته ووېل: <لکه څنګه چې تا وعده کړې ده
چې اسراییلیان به زما په لاس وژغورې، ۳۷ ښه ده، زه به د پسه
وړی په درمند باندې کېږدم. که چیرې سهار یوازې په وړیو باندې
پرخه پرته وي او ځمکه وچه وي، بیا به زه پوه شم چې ته به
اسراییلیان زما په لاس وژغورې.> ۳۸ او کټ مټ همداسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وشول. کله چې جدعون بله ورځ سهار وختي پاڅېده، هغه لاړ او د
پسه وړی يې په کاسه کې وزبېښلې او کاسه د اوبو څخه ډکه شوه.
۳۹ بيا جدعون خدای ته وويل: <په ما باندې په قهر نه شې.
اجازه راکړه چې يوه بله غوښتنه وکړم چې يو ځل بيا په وړيو باندې
ازمايښت وکړم. دا ځل دې وړی وچې پاتې شي او ځمکه دې په
پرخې باندې لنده شي.> ۴۰ په هغه شپه خدای همداسې وکړل.
سهار يوازې وړی وچې وې، خو ځمکه په پرخې باندې لنده وه.

## د جدعون له خوا د مديانيانو ماتې

۷ ۱ يوه ورځ سهار وختي جدعون د خپلو ټولو نفرو سره
پاڅېده، هغوی لاړل او د حرود د چينې په خوا کې يې خېمې
ودرولې. د مديانيانو کمپ د هغوی شمال خواته د موره غره ته نژدې
په يوه دره کې ؤ.

۲ څښتن جدعون ته وويل: <ستا نفر ډېر زيات دي. که چېرې
تاسو ټول پرېږدم چې د مديانيانو سره وجنګېږئ او هغوی ته ماتې
ورکړئ، نو بيا به اسراييليان لافې وهي او وايي به چې مونږ په خپل
زور خپل ځانونه ژغورلي دي. ۳ نو خلکو ته اعلان وکړه او
ووايه چې هرڅوک چې ډارن وي او له جنګ څخه وېرېږي هغه دې
بېرته کور ته لاړ شي او مونږ به دلته د جلعاد په غره کې پاتې شو.>
نو دوه ويشت زره نفره بېرته لاړل او يوازې لس زره نفر پاتې شول.

۴ څښتن جدعون ته وويل: <ستا نفر اوس هم زيات دي. هغوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښکته چيني ته بوځه او هلته به هغوی ستا دپاره بېل کړم. زه به تاته
ووايم چې څوک درسره لاړ شي او څوک بېرته کور ته لاړ شي.>
۵ کله چې جدعون خپل سړي لاندې اوبو ته بوتلل، څښتن هغه
ته ووېل: <سړي په دوو ډلو ووېشه. په يوه ډله کې هغه ټول واچوه
چې اوبه د لاسونو په لپو کې را اخلي او په خپلو ژبو يې لکه د سپيو
څټي. په بله ډله کې هغه ټول واچوه چې زنګونونه لاندې لګوي او د
ويالې څخه اوبه په خپلو خلو څښي.> ۶ يوازې د سړيو درې
سوو يې په لاسونو اوبه وڅښلې. نورو ټولو خپل زنګونونه لاندې
ولګول او اوبه يې د ويالې نه په خلو وڅښلې. ۷ څښتن جدعون
ته ووېل: <زه به په دغو درې سوه نفرو چې اوبه يې وڅټلې تاسو
وژغورم او مديانيان به درته تسليم کړم. نور ټول نفر پرېږده چې
خپلو کورونو ته لاړ شي.> ۸ نو جدعون يوازې درې سوه نفر د
ځان سره وساتل او د پاتې نفرو څخه يې خواړه او سرني راټول کړل
او هغوی يې خپلو کورونو ته رخصت کړل. د مديانيانو کمپ د هغوی
څخه لاندې په دره کې ؤ.

۹ هغه شپه څښتن په جدعون باندې امر وکړ: <پاڅه او د
مديانيانو په کمپ باندې حمله وکړه، زه تاته په هغوی باندې برى
درکوم. ۱۰ خو که چېرې ته د حملې کولو څخه وېرېږې، نو د
خپل نوکر فوره سره کمپ ته کوز شه. ۱۱ نو ته به د مديانيانو
خبرې واورې چې څه وايي. وروسته به جرأت پيدا کړې چې په
کمپ باندې حمله وکړې.> نو هغه د خپل نوکر سره د کمپ پوستې
ته کوز شو. ۱۲ مديانيان، عماليقيان او د دښتې د قبيلو خلک لکه د
ملخانو په شان په دره کې خپاره شوي وو او هغوی د درياب د شګو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په شان بې شمېره اوښان درلودل. ۱۳ کله چې جدعون هلته
ورسېده، هغه واورېدل چې يو نفر خپل ملګري ته خپل خوب
بيانوي. هغه ويل: <ما خوب وليد چې د اوربشو يوه ډوډۍ راغله او
زمونږ په کمپ باندې راورغړېده. خېمه يې ووهله او هغه راچپه شوه
او په ځمکه باندې هواره شوه.>

۱۴ د هغه ملګري په ځواب کې وويل: <ستا خوب يوازې يوه
معنیٰ لري او هغه دا چې د اسراييلي يوآش زوی جدعون د تورې
سره راځي. خدای هغه ته په مديانيانو او زمونږ په ټولو لښکرو باندې
بری ورکړی دی.>

۱۵ کله چې جدعون دا خوب او د هغه تعبير واورېده، هغه په
سجده پرېوت او د څښتن عبادت يې وکړ. بيا هغه بېرته د اسراييلو
کمپ ته ستون شو او غږ يې وکړ: <پاڅئ! څښتن تاسو ته د
مديانيانو په لښکرو باندې بری درکړی دی.> ۱۶ هغه دا درې سوه
نفره په دريو ډلو ووېشل او هر يو ته يې يو سرنی او يو خالي منګی
چې څراغ په کې ؤ ورکړ. ۱۷ او هغوی ته يې وويل: <کله چې زه
کمپ ته ورنږدې شوم، نو ماته ګورئ، هرڅه چې زه کوم تاسو هم
همداسې وکړئ. ۱۸ کله چې ما او زما ډلې سرني ووهل، تاسو هم
د کمپ په شاوخوا کې سرني ووهئ او چيغې ووهئ: مونږ د څښتن او
جدعون دپاره جنګېږو.>

۱۹ جدعون د خپلو سلو نفرو سره د نيمې شپې څخه مخکې د
مديانيانو د کمپ څنډې ته ورسېد، په هماغه وخت کې پهره بدله
شوې وه. دوی سرني ووهل او هغه منګي چې په لاسونو کې يې وو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه يې مات کړل ٢٠ او نورو دوو ډلو هم همداسې وکړل. هغوی
ټولو په خپلو چپو لاسونو کې څراغونه نيولي وو او په ښي لاسونو
کې يې سرني نيولي وو او چيغې يې وهلې: <د خښتن او د جدعون
دپاره توره!> ٢١ هر نفر په خپل ځای د کمپ شاوخوا کې ولاړ ؤ
او د دښمن ټولو لښکرو چيغې وهلې او وتښتېدل. ٢٢ په داسې
حال کې چې د جدعون نفرو سرني وهل، خښتن د دښمنانو لښکرې
په خپل منځ کې سره په جنګ اخته کړلې او هغوی په يو بل باندې د
تورو په واسطه حمله وکړه. هغوی د بيت شطه څخه د صريرت خواته
د آبل محولا پورې چې طبات ته نژدې ؤ وتښتېدل.

٢٣ بيا جدعون د نفتالي او اشير قبيلو او له ټول منسي څخه نفر
راوغوښتل او هغوی راغلل او په مديانيانو پسې شول. ٢٤ جدعون
د افرايم ټولې غرنۍ سيمې ته استازي ولېږل چې هغوی ته ووايي:
<راکوز شئ او د مديانيانو په مقابل کې وجنګېږئ. د اردن سيند او
وياله تر بيت باره پورې ونيسئ ترڅو مديانيان ورڅخه تېر نه شي.>
نو د افرايم ټول نفر راغونډ شول او تر بيت باره پورې يې د اردن
سيند او ويالې ونيولې. ٢٥ هغوی د مديانيانو دوه مشران چې غراب
او زيب نومېدل ونيول. غراب يې د غراب په ګټ وواژه او زيب يې د
شرابو جوړولو په ځای کې چې د زيب په نوم يادېده وواژه. دوی د
مديانيانو تعقيبولو ته دوام ورکړ او د غراب او زيب سرونه يې د اردن
د سيند په ختيځ کې جدعون ته راوړل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د مدیانیانو اخرنۍ ماتې

۸ ۱ د افرایم خلکو جدعون ته وویل: <تا ولې زمونږ سره
داسې رویه وکړه؟ تا ولې مونږ د مدیانیانو سره د جګړې په وخت کې
راونه غوښتلو؟> او هغه یې سخت ملامت کړ.

۲ خو جدعون په ځواب کې وویل: <ما چې کوم کار کړی دی
هغه ستاسو د کار په پرتله هیڅ هم نه دی. حتیٰ هغه وړوکی کار چې
تاسو د افرایم خلکو کړی دی هغه زمونږ د ټولې طایفې د کارونو
څخه زیات ارزښت لري. ۳ تاسو د خدای په مرسته د مدیانیانو
دوه مشران یعنې غراب او زیب ووژل. ما څه کړي دي چې ستاسو
سره یې مقایسه کړم؟> په دې خبره د هغوی قهر سوړ شو.

۴ وروسته بیا جدعون د خپلو درې سوه نفرو سره د اردن د سیند
څخه تېر شو. که څه هم هغوی ډېر ستومانه شوي وو، خو بیاهم د
خپلو دښمنانو پسې وو. ۵ کله چې هغوی سوکوت ته ورسېدل،
جدعون د ښارګوټي خلکو ته وویل: <مهرباني وکړئ زما نفرو ته د
خوړلو دپاره یو څه ورکړئ. هغوی ډېر ستړي دي خو مونږ د
مدیانیانو پادشاهان زبح او صلمونع تعقیبوو.>

۶ خو د سوکوت مشرانو وویل: <تاسو تر اوسه پورې زبح او
صلمونع نه دي نیولي، نو مونږ ولې ستا لښکرو ته ډوډۍ ورکړو؟>

۷ جدعون وویل: <ښه ده! کله چې څښتن زبح او صلمونع ماته
په لاس راکړل، نو بیا به زه بېرته راشم او ستاسو غوښې به د صحرا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

په اغزو باندې وشکوم.> ٨ جدعون له هغه ځای څخه فنوعیل
ته لاړ او د هغه ځای له خلکو څخه یې خواړه وغوښتل خو د
فنوعیل خلکو هم د سوکوت د خلکو په شان هغه ته ځواب ورکړ.
٩ جدعون د فنوعیل خلکو ته وویل: <کله چې زه په سلامتی
سره بېرته راشم، نو ستاسو برج به راوغورزوم!>

١٠ په دې وخت کې زبح او صلمونع تقریباً د پنځلس زره عسکرو
سره په قرقور کې وو. د دښتې د قومونو د ټولو لښکرو څخه یوازې
هم دومره نفر پاتې شوي وو، ځکه چې یو لک او شل زره عسکر په
جګړه کې وژل شوي وو. ١١ جدعون د کاروان د تېرېدلو په لاره
باندې چې د نوبح او یجبها په ختیځ کې وه لاړ او یوناڅاپه یې د
مدیانیانو په لښکرو باندې حمله وکړه. ١٢ د مدیانیانو دوه
پادشاهان زبح او صلمونع وتښتېدل، خو جدعون په هغوی پسې شو،
ویې نیول او د هغوی ټول لښکر یې سخت وارخطا کړ.

١٣ له جګړې څخه وروسته جدعون کور ته روان شو. هغه د
حارس په غاښې باندې روان ؤ ١٤ او یو ځوان یې چې د سوکوت
اوسېدونکی ؤ ونیوه او پوښتنه یې ورڅخه وکړه چې د سوکوت
ماموران او سپین ږیري څوک دي. هغه ځوان ورته د سوکوت د اووه
اویا نفرو نومونه ولیکل. ١٥ بیا جدعون لاړ او د سوکوت خلکو ته
یې وویل: <تاسو ماته پېغور راکاوه او ویل مو چې تا تر اوسه پورې
زبح او صلمونع نه دي نیولي، نو مونږ ولې ستاسو ستړي شویو لښکرو
ته ډوډۍ ورکړو؟ دا دی وګورئ زبح او صلمونع دلته دي.> ١٦ بیا
هغه د دښتې اغزي راواخیستل او د سوکوت مشران یې په اغزیو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

باندې ووهل او سزا يې ورته ورکړه. ١٧ همدارنګه هغه د فنوعيل
برج وران کړ او د ښارګوټي ټول سړي يې ووژل.

١٨ بيا هغه له زبح او صلمونع څخه پوښتنه وکړه: <هغه خلک چې
تاسو په تابور کې ووژل، هغه څه ډول خلک وو؟>

هغوی په ځواب کې وويل: <هغوی ستا په شان وو، هر يو لکه د
شاهزاده په شان ؤ.>

١٩ جدعون وويل: <هغوی زما سکه ورونه وو. زه د څښتن په
نوم قسم خورم، که چېرې تاسو هغوی نه وای وژلي نو ما به هم تاسو
نه وای وژلي.> ٢٠ بيا هغه خپل مشر زوی يتر ته وويل: <پورته
شه او هغوی ووژنه!> مګر هغه خپله توره راونه ايستله ځکه چې
هغه لا هلک ؤ او وويرېده.

٢١ بيا زبح او صلمونع جدعون ته وويل: <راشه ته په خپله مونږ
ووژنه. د هلک څخه د سړي کار مه غواړه.> نو جدعون هغوی
دواړه ووژل او کوم زېورات چې د هغوی د اوښانو په غاړو کې وو
هغه يې واخيستل.

## د جدعون بت

٢٢ له هغې وروسته اسراييليانو جدعون ته وويل: <ته زمونږ
پادشاه شه او ستا څخه وروسته دې ستا اولاده په مونږ باندې
پادشاهي وکړي. ځکه چې تا مونږ له مديانيانو څخه ژغورلي يو.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٣ جدعون په ځواب کې ووېل: <نه به زه او نه به زما زوی
ستاسو پادشاه شي. څښتن به ستاسو پادشاه وي. ٢٤ خو زه ستاسو
څخه یوه غوښتنه کوم. تاسو هر یو ماته له خپل غنیمت څخه یوه یوه
غوږوالۍ راکړئ.> (د دښمن عسکر چې اسماعیلیان وو د سرو زرو
غوږوالۍ به یې اچولې.)

٢٥ خلکو په ځواب کې ووېل: <مونږ په خوشالۍ سره خپلې
غوږوالۍ تاته درکوو.> نو هغوی یوه چپنه وغوړوله او هر نفر په کې
خپلې غوږوالۍ چې په غنیمت کې یې نیولې وې واچولې. ٢٦ د
سرو زرو د غوږوالیو وزن چې جدعون واخیستلې شل کیلوګرامه ؤ،
پرته له ګاڼو، غاړکیو او د مدیانیانو د پادشاهانو د شاهانه کالیو او هغو
ځنځیرونو څخه چې د هغوی د اوښانو په غاړو کې وو. ٢٧
جدعون له هغو سرو زرو څخه یو بت جوړ کړ او هغه یې په خپل
ښارګوټي یعنې عفره کې کېښود. ټولو اسراییلیانو خدای پرېښود او د
بت د عبادت دپاره هلته لاړل. دا کار د جدعون او د هغه د کورنۍ
دپاره یو دام شو.

## د جدعون مړینه

٢٨ نو مدیانیان د اسراییلیانو په مقابل کې کمزوري شول او نور یې
نه شو کولی چې سر راپورته کړي. د جدعون په ژوندانه کې
څلوېښت کاله په هغه خاوره کې ارامي وه.

٢٩ جدعون بېرته خپل کور ته ستون شو او هلته اوسېده. ٣٠
جدعون اویا زامن درلودل ځکه چې ډېرې ښځې یې درلودلې. ٣١

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه یوه وینځه هم درلودله چې په شکیم کې اوسېدله، هغې هم د هغه
دپاره یو زوی وزېږاوه او جدعون ورباندې ابیملک نوم کېښود. ۳۲
جدعون د یوآش زوی په پوخ عمر کې مړ شو او د خپل پلار په
هدیره کې یې په عفره یعنې د ابیعزر د طایفې په ښارګوټي کې ښخ
کړ.

۳۳ ځنګه چې جدعون مړ شو، د اسراییلو قوم یو ځل بیا د خدای
سره بې وفایي وکړه او د بعل د بتانو عبادت یې پیل کړ. هغوی د
بعل بریت څخه خپل خدای جوړ کړ ۳۴ او خپل څښتن خدای یې
چې هغوی یې د خپل شاوخوا ټولو دښمنانو څخه ژغورلي وو، هېر
کړ. ۳۵ سره له دې چې یروبعل (جدعون) د اسراییلیانو دپاره ښه
ښه کارونه کړي وو، خو هغوی د هغه له کورنۍ سره وفاداري ونه
ښودله.

## ابیملک

۹ ۱ یوه ورځ د جدعون زوی ابیملک خپلو ماماګانو ته چې په
شکیم کې وو ورغی، هغوی او د خپلې مور ټولې طایفې ته یې وویل:
۲ <د شکیم د ټولو سړیو څخه پوښتنه وکړئ چې تاسو ته کومه
یوه لاره ښه ده؟ چې اویا تنه یعنې د جدعون ټول زامن په تاسو
باندې پادشاهي وکړي او که یوازې یو نفر؟ په یاد ساتئ، ابیملک
ستاسو خپل هډوکی او خپله وینه ده.> ۳ کله چې د هغه ماماګانو
دا ټولې خبرې د شکیم خلکو ته وکړې، نو هغوی پرېکړه وکړه چې د
ابیملک څخه پیروي وکړي، ځکه چې هغه یې خپلوان ؤ. ۴

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی هغه ته د بعل بریت له بتخانې څخه اویا مثقاله سپین زر ورکړل
او په هغو باندې یې لنډغران اجیر ونیول چې د هغه سره یوځای شي.
۵ هغه د خپل پلار کور ته چې په عفره کې ؤ لاړ او د یوې تیږې
په سر باندې یې خپل اویا ناسکه ورونه ووژل. خو یوتام چې د
جدعون کشر زوی ؤ ځان ورڅخه پټ کړ او ژوندی پاتې شو. ۶
بیا د شکیم او بیت ملو ټول سړي سره راغونډ شول او د خیړې
مقدسې ونې ته چې په شکیم کې وه ورغلل او د ابیملک په سر یې د
پادشاهۍ تاج کېښود.

۷ کله چې یوتام له دې څخه خبر شو، هغه د جرزیم د غره سرته
وخوت او هغوی ته یې چیغې کړې: <د شکیم خلکو ماته غوږ
ونیسئ نو خدای به تاسو ته غوږ ونیسي. ۸ یو وخت ونې سره
راټولې شولې چې د ځانونو دپاره یو پادشاه وټاکي. هغوی د زیتون
ونې ته وویل: ته زمونږ پادشاه شه. ۹ خو د زیتون ونې په ځواب
کې وویل: آیا زه په تاسو باندې د پادشاهۍ کولو په خاطر د خپلو
تېلو د تولیدولو څخه چې د خدایانو او انسانانو د احترام دپاره
استعمالیږي، لاس واخلم؟ ۱۰ بیا ونو د اینځر ونې ته وویل: ته
زمونږ پادشاه شه. ۱۱ مګر د اینځر ونې په ځواب کې وویل: آیا زه
په تاسو باندې د پادشاهۍ کولو په خاطر د خپلې ښې او خوږې
مېوې له تولیدولو څخه لاس واخلم؟ ۱۲ بیا ونو د انګورو تاک ته
وویل: راځه زمونږ پادشاه شه. ۱۳ خو تاک هم په ځواب کې
وویل: آیا زه په تاسو باندې د پادشاهۍ کولو په خاطر د خپلو شرابو
د تولیدولو څخه چې خدایان او انسانان خوشالوي، لاس واخلم؟
۱۴ په پای کې ټولو ونو د اغزیو بوټي ته وویل: راځه ته زمونږ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پادشاه شه. ۱۵ د اغزيو بوټي په خوب کې وويل: که چېرې تاسو
په رښتيا غواړئ چې زه ستاسو پادشاه شم، بيا راشئ او زما د
سيوري لاندې پناه واخلئ. که نه، نو زما د اغزينو څانګو څخه به د
اور لمبه پورته شي او حتیٰ د لبنان د صبر ونې به هم وسوزوي.

۱۶-۱۸ زما پلار جدعون ستاسو په خاطر خپل ژوند په خطر کې
واچاوه، ستاسو دپاره يې جنګ وکړ او تاسو يې د مديانيانو څخه
وژغورلئ. آيا تاسو هغه ته په بدل کې د هغه د کورنۍ سره مهرباني
وښودله؟ نه، تاسو داسې ونه کړل. تاسو د هغه د کورنۍ په مقابل کې
راپورته شوئ او په هغې تيرې باندې مو د هغه اويا زامن ټول ووژل.

آيا دا صحيح کار ؤ چې تاسو ابيملک خپل پادشاه کړ؟ هغه فقط زما
د پلار د وينځې زوی دی. خو يوازې په دې خاطر چې هغه ستاسو
خپلوان دی، هغه مو د شکيم پادشاه کړ.

۱۹ نو که چېرې هغه کار چې تاسو نن د جدعون او د هغه د
کورنۍ سره وکړ، د اخلاص او صداقت له مخې وي، نو بيا تاسو دې د
ابيملک څخه خوشاله اوسئ او هغه دې ستاسو څخه خوشاله اوسي.
۲۰ که نه، نو له ابيملک څخه دې د اور لمبه راووزي او د شکيم او
بيت ملو سړي دې وسوزوي. او د شکيم او بيت ملو له سړيو څخه
دې د اور لمبه راووزي او ابيملک دې وسوزوي.> ۲۱ بيا يوتام
وتښتېده او لاړ چې په بئير کې واوسيږي، ځکه چې هغه د خپل ورور
ابيملک څخه وېرېده.

۲۲ ابيملک په اسراييلو باندې درې کاله حکومت وکړ. ۲۳ بيا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خدای د ابیملک او د شکیم د خلکو ترمنځ دښمني پیدا کړه او هغوی
د ابیملک په مقابل کې خیانت وکړ. ۲۴ دا کار د دې دپاره وشو
ترڅو ابیملک او د شکیم خلک چې د هغه سره یې د جدعون د اویا
زامنو په قتلولو کې مرسته کړې وه، د خپلو عملونو سزا وویني. ۲۵
د ابیملک په خلاف د شکیم خلکو په غونډیو باندې نفر په کمین کې
کېنول او هرڅوک چې به له هغه ځایه تېرېده هغه به یې لوټاوه او
ابیملک له دې کار څخه خبر شو.

۲۶ په دې وخت کې جعل د عابد زوی د خپلو ورونو سره شکیم
ته کډه وکړه او د هغه ځای اوسېدونکو په هغه باندې اعتبار وکړ.
۲۷ د انګورو د حاصلاتو وخت راورسېده او د شکیم خلک خپلو
باغونو ته ورننوتل او انګور یې راټول کړل. د هغو څخه یې شراب
جوړ کړل او جشن یې ونیوه. بیا هغوی د خپل خدای عبادتخانې ته
لاړل، هلته یې خوراک وکړ او شراب یې وڅښل او په ابیملک باندې
یې ملنډې ووهلې. ۲۸ جعل وویل: <مونږ د شکیم خلک څه ډول
خلک یو؟ ولې مونږ د ابیملک خدمت کوو؟ هغه څوک دی؟ آیا هغه
د جدعون زوی او زبول د هغه مرستیال نه دی؟ مګر مونږ ولې د هغه
خدمت وکړو؟ خپل نیکه حمور ته چې ستاسو د طایفې بنسټ یې
کېښود، وفادار اوسئ. ۲۹ کاشکې زه ستاسو مشر وای، نو تاسو به
مې د ابیملک له شر څخه خلاص کړي وای. ما به هغه ته ویلي وای
چې خپل ټول لښکر دې راوغواړه او جنګ ته راووزه!>

۳۰ کله چې د ښار والي زبول د جعل دا خبره واورېده، هغه ډېر په
قهر شو. ۳۱ هغه په پټه ابیملک ته استازي ولېږل او استازو ورته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وويل: <د عابد زوی جعل د خپلو ورونو سره شکيم ته راغلی دی
او هغوی ستا په ضد د ښار اوسېدونکي راپاروي. ٣٢ ته بايد د
خپلو نفرو سره د شپې راشې او په پټيو کې پټ شې. ٣٣ سبا سهار
د لمر خاته په وخت کې پاڅه او په ښار باندې يوه ناڅاپه حمله
وکړه. کله چې جعل د خپلو نفرو سره ستا په مقابل کې جګړې ته
راووزي، نو ته د هغوی سره په خپل ټول قوت مقابله وکړه.>

٣٤ نو د شپې له خوا ابيملک او د هغه لښکرې رواني شوې، هغوی
په څلورو ډلو کې سره تقسيم شول او د شکيم څخه دباندې پټ
شول. ٣٥ کله چې ابيملک او د هغه نفرو وليدل چې جعل راوتلی
او د ښار د دروازې په خولې کې ولاړ دی، نو هغوی د خپلو پټو
ځايونو څخه راووتل. ٣٦ جعل هغوی وليدل او زبول ته يې وويل:
<ګوره، د غرونو له څوکو څخه خلک راښکته کيږي.>

زبول په ځواب کې وويل: <هغه سړي نه دي، هغه يوازې د غرونو
سيوري دي.>

٣٧ جعل بيا وويل: <ګوره! خلک د غره څخه راښکته کيږي او بله
ډله يې د څېرې د ونې په لاره چېرته چې خلک فال ګوري راروانه
ده!>

٣٨ بيا زبول هغه ته وويل: <اوس ستا لافې چېرته دي؟ تا به
پوښتنه کوله چې ولې بايد د ابيملک خدمت وکړو. دا هغه نفر دي
چې تا ورباندې ملنډې وهلې. اوس لاړ شه او جګړه ورسره وکړه.>
٣٩ جعل د شکيم نفر راوويستل او له ابيملک سره يې جګړه وکړه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۰ جعل وتښتېد او ابيملک ورپسې شو. د ښار د دروازې تر خولې
پورې ډېر نفر ټپيان پراته وو. ۴۱ ابيملک په ارومه کې سکونت
اختيار کړ. زبول، جعل او د هغه ورونه له شکيم څخه وويستل، نو
هغوی ونه شو کولی چې نور هلته واوسيږي.

۴۲ بله ورځ ابيملک خبر شو چې د شکيم خلک غواړي چې پټيو
ته ووزي. ۴۳ نو هغه خپل نفر په دريو ډلو ووېشل او هغوی په
پټيو کې پټ شول او انتظار يې کاوه. کله چې هغه وليدل چې خلک
له ښار څخه راوزي، نو هغوی د پټېدلو د ځای څخه راووتل او د
شکيم په خلکو باندې يې حمله وکړه. ۴۴ ابيملک د خپلو نفرو
سره په بيړه مخکې لاړ چې د ښار دروازه ونيسي، په دې وخت کې
نورو دوو ډلو په هغو خلکو باندې چې په پټيو کې وو حمله وکړه او
ټول يې ووژل. ۴۵ جنګ ټوله ورځ دوام وموند. هغوی ښار ونيوه
او د هغه ځای خلک يې ووژل. ښار يې وران کړ او په ځمکه باندې
يې مالګه وشيندله.

۴۶ د دې خبرې په اورېدلو سره کوم ښاريان چې د شکيم په برج
کې وو د بعل بريت د بتخانې کلا ته ننوتل. ۴۷ کله چې ابيملک
خبر شو چې هغوی هلته راټول شوي دي، ۴۸ نو د خپلو ټولو نفرو
سره د صلمون غره ته وخوت. هغه تبر واخيست او يو څو څانګې
يې پرې کړې او په خپلو اوږو يې کېښودلې. هغه په خپلو نفرو باندې
حکم وکړ: <ژر شئ! کوم کار چې زه يې کوم تاسو يې هم وکړئ!>
۴۹ نو هر سړي له ونې څخه يوه يوه څانګه پرې کړه، بيا هغوی
ابيملک پسې روان شول او هغه لرګي يې د کلا په دېوالونو باندې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کېښودل او هغه کلا يې وسوزوله. نو د شکيم د کلا ټول خلک چې
تقريباً زر تنه نارينه او ښځې وې، مړه شول.

۵۰ بيا ابيملک د تاباز په ښار باندې حمله وکړه. ښار يې محاصره
کړ او هغه يې ونيوه. ۵۱ دننه په ښار کې يو قوي برج ؤ چې د ښار
ټول سړي او ښځې د مشرانو سره هغه ته وروتښتېدل. د خپلو ځانونو
پسې يې دروازې وتړلې او بام ته وختل. ۵۲ کله چې ابيملک راغی
چې په برج باندې حمله وکړي، نو دروازو ته ورغی چې برج ته اور
واچوي. ۵۳ مګر يوې ښځې د بام له سر څخه د هغه په سر باندې
د مېچنې پل راوغورزاوه او د هغه کوپړۍ يې ماته کړه. ۵۴ ابيملک
په چالاکۍ سره خپل عسکر ته چې وسلې يې ورسره انتقالولې غږ
وکړ: <خپله توره راوباسه او ما ووژنه. زه نه غواړم چې خلک
ووايي چې ابيملک د يوې ښځې له لاسه ووژل شو.> نو هغه ځوان
د هغه په ګېډه کې توره ورومنډله او هغه مړ شو. ۵۵ کله چې
اسراييليانو وليدل چې ابيملک مړ دی، نو ټول خپلو کورونو ته لاړل.

۵۶ په دې ډول خدای د ابيملک څخه د هغه جرم بدله واخيسته
کوم چې هغه د خپل پلار په مقابل کې کړی ؤ او خپل اويا ورونه يې
وژلي وو. ۵۷ همدارنګه خدای د شکيم د خلکو څخه د هغوی د
ټولو بدو کارونو بدله واخيسته او د جدعون د زوی يوتام لعنت په
هغوی باندې راغی.

## تولع

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ ۱ د ابیملک له مړینې څخه وروسته د فواه زوی او د دودو
لمسی تولع د اسراییلو د ژغورلو دپاره راغی. هغه د یساکار له قبیلې
څخه ؤ او د افرایم په غرنی سیمه کې د شامیر په ښارګوټي کې
اوسېده. ۲ هغه درویشت کاله د اسراییلو مشر ؤ. بیا هغه مړ شو او
په شامیر کې ښخ کړای شو.

## یائیر

۳ له تولع څخه وروسته جلعادي یائیر راغی. هغه دوه ویشت کاله
د اسراییلو مشر ؤ. ۴ هغه دېرش زامن درلودل چې هر یو خپل
خر درلود. هغوی په جلعاد کې دېرش ښارګوټي درلودل چې تر نن
ورځې پورې د یائیر د ښارګوټو په نوم یادېږي. ۵ کله چې یائیر
مړ شو هغه په قامون کې ښخ کړای شو.

## یفتاح

۶ اسراییلیانو یو ځل بیا د څښتن په مقابل کې ګناه وکړه او د بعل
او عشتاروت بتانو او د سوریې، صیدون، موآب، عمون او فلسطین
خدایانو ته یې په عبادت لاس پورې کړ. هغوی څښتن پرېښود او د
هغه عبادت کول یې بس کړل. ۷ نو څښتن په هغوی باندې په
قهر شو او هغوی یې فلسطینیانو او عمونیانو ته په لاس ورکړل، ۸
اتلس کاله هغوی ظلم وکړ او ټول اسراییلیان یې چې په جلعاد کې د
اردن د سیند ختیځ خواته د اموریانو په هېواد کې اوسېدل وځورول.
۹ عمونیان د یهودا، بنیامین او افرایم د قبیلو سره د جګړې دپاره
حتیٰ د اردن له سیند څخه تېر شول. اسراییلیان په ډېر لوی مصیبت

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اخته شول. ۱۰ بیا اسراییلیانو څښتن ته فریاد وکړ او ویې ویل:
<مونږ ستا په مقابل کې ګناه کړې ده ځکه چې ته زمونږ خدای یې
او مونږ ته پرېښودلې او د بعل د بتانو عبادت مو شروع کړ.>

۱۱ څښتن هغوی ته دا ځواب ورکړ: <هغه وخت چې مصریانو،
اموریانو، عمونیانو، فلسطینیانو، ۱۲ صیدونیانو، عمالیقیانو او
معونیانو په تاسو باندې ظلم کاوه او تاسو ماته فریاد وکړ، آیا له
هغوی څخه مې ونه ژغورلئ؟ ۱۳ خو تاسو زه پرېښودم او د نورو
خدایانو عبادت مو وکړ، نو زه به نور تاسو ونه ژغورم. ۱۴ لاړ شئ
هغو خدایانو ته فریاد وکړئ چې تاسو خپلو ځانونو دپاره غوره کړې
دي. کله چې د تکلیف سره مخامخ کېږئ نو پرېږدئ چې هغوی مو
وژغوري.>

۱۵ خو د اسراییلو خلکو څښتن ته وویل: <مونږ ګناه کړې ده. څه
چې ستا خوښه وي زمونږ سره یې وکړه، خو اوس مونږ له عمونیانو
څخه وژغوره.> ۱۶ نو هغوی له پردیو خدایانو څخه لاس
واخیست او د څښتن عبادت یې شروع کړ. نو څښتن نور د هغوی
تکلیفونه نه شول لیدلی.

۱۷ بیا د عمونیانو لښکرې د جنګ دپاره تیارې شوې او په جلعاد
کې یې خېمې ودرولې. اسراییلیان سره راغونډ شول او د جلعاد په
مصفه کې یې خېمې ودرولې. ۱۸ د جلعاد مشرانو یو او بل ته
وویل: <هرچا چې اول په عمونیانو باندې حمله وکړه، هغه به د
جلعاد د ټولو خلکو مشر شي.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ ١ يفتاح يو زړور عسکر ؤ چې د جلعاد څخه ؤ. د هغه د
پلار نوم جلعاد ؤ او مور يې فاحشه وه. ٢ جلعاد د خپلې نکاح
کړې ښځې څخه نور زامن هم درلودل. کله چې هغوی لوی شول نو
يفتاح يې له کوره وويست او ورته ويې ويل: <ته به زمونږ په کورنی
کې ميراث ترلاسه نه کړې، ځکه چې ته د بلې ښځې زوی يې.>
٣ نو يفتاح له خپلو ورونو څخه وتښتېد او د طوب په خاوره کې
اوسېده او هلته د هغه په شاوخوا خوشې خلک راټول شول او د هغه
پسې شول.

٤ څه موده وروسته عمونيانو د اسراييلو سره جنګ شروع کړ.
٥ نو د جلعاد مشران لاړل چې يفتاح د طوب د خاورې څخه
راولي. ٦ هغوی هغه ته وويل: <راشه او زمونږ قوماندان شه،
ترڅو مونږ وکولی شو د عمونيانو سره جګړه وکړو.>

٧ خو يفتاح په ځواب کې وويل: <تاسو زما څخه دومره کرکه
کوله چې زه مو د خپل پلار د کور پرېښودلو ته مجبور کړم. اوس
چې په تاسو باندې تکليف راغلی دی، نو ماته راغلئ.>

٨ مشرانو وويل: <خو مونږ اوس ستا څخه غواړو چې بېرته
راشې. که چېرې د عمونيانو سره په جنګ کې زمونږ مشري وکړې،
نو مونږ به تا د جلعاد د ټولو خلکو مشر کړو.>

٩ يفتاح په ځواب کې وويل: <که چېرې تاسو ما د عمونيانو سره
د جګړې دپاره بوځئ او څښتن هغوی ماته په لاس راکړي، آيا زه به
په رښتيا ستاسو مشر شم؟>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۰ د جلعاد مشرانو یفتاح ته په ځواب کې وویل: <څښتن به
زمونږ ترمنځ شاهد وي. مونږ وعده کوو څه چې ته وایې هماغسې به
کوو.> ۱۱ نو یفتاح د جلعاد د مشرانو سره لاړ او خلکو هغه خپل
مشر او قوماندان وټاکه. کومې خبرې چې یفتاح مشرانو ته کړې وې،
هغه یې په مصفه کې د څښتن په حضور کې تکرار کړلې.

۱۲ بیا یفتاح د عمون پادشاه ته استازي ورولېږل چې هغه ته
ووایي: <ته زمونږ سره څه دښمني لرې؟ تا ولې زمونږ په هېواد
باندې حمله کړې ده؟>

۱۳ د عمون پادشاه د یفتاح استازو ته په ځواب کې وویل: <کله
چې اسراییلیان له مصر څخه ووتل، هغوی زما ځمکه د ارنون له
سیند څخه نیولې د یبوق او د اردن د سیندونو پورې ونیوله. اوس په
سوله ایز ډول هغه ماته بېرته راکړه.>

۱۴ یفتاح بېرته د عمون پادشاه ته استازي ورولېږل ۱۵ چې هغه
ته ووایي: <دا خبره رښتیا نه ده چې اسراییلو د موآبیانو او عمونیانو
ځمکه نیولې وه. ۱۶ بلکه کله چې اسراییلیان له مصر څخه ووتل،
هغوی د دښتې په لاره باندې سرې بحیرې ته او بیا قادش ته لاړل.
۱۷ بیا هغوی د ادوم پادشاه ته استازي ولېږل چې له هغه څخه د
هغه د خاورې څخه د تېرېدلو دپاره اجازه واخلي، خو د ادوم پادشاه
هغوی ته اجازه ورنه کړه. هغوی د موآب له پادشاه څخه هم دا
غوښتنه وکړه، خو هغه هم اجازه ورنه کړه چې د هغوی د خاورې په
لاره لاړ شي. نو اسراییلیان په قادش کې پاتې شول. ۱۸ بیا هغوی
د دښتې په لاره لاړل او د ادوم او د موآب په هېوادونو باندې راتاو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شول او د موآب ختيځ خواته راغلل. د ارنون د سيند په بله غاړه
باندې يې خېمې ودرولې، مګر د ارنون د سيند څخه تېر نه شول
ځکه چې هغه د موآب سرحد ؤ. ١٩ بيا اسراييليانو سيحون د
اموريانو پادشاه ته چې پايتخت يې په حشبون کې ؤ، استازي ولېږل
او له هغه څخه يې اجازه وغوښتله چې د هغوی د خاورې په لاره
باندې خپل هېواد ته لاړ شي. ٢٠ مګر سيحون په اسراييليانو باندې
اعتبار ونه کړ چې د هغه د سيمې له لارې تېر شي. هغه خپل ټول نفر
راغونډ کړل او په ياهص کې يې خېمې ودرولې او په اسراييليانو
باندې يې حمله وکړه. ٢١ خو د اسراييلو څښتن خدای اسراييليان
په سيحون او د هغه په لښکر باندې بريالي کړل. نو اسراييليانو د هغو
اموريانو ټوله سيمه چې هغوی په کې اوسېدل ونيوله. ٢٢ هغوی د
اموريانو ټوله سيمه د ارنون له سيند څخه د يبوق تر سيند پورې او د
دښتې څخه د اردن تر سيند پورې ونيوله. ٢٣ نو دا د اسراييلو
څښتن خدای ؤ چې د خپل قوم يعنې اسراييلو په خاطر يې اموريان
وشړل. آيا تاسو د دې هڅه کوئ چې هغه بېرته واخلئ؟ ٢٤ هرڅه
چې تاسو ته خپل خدای کموش درکړي دي هغه تاسو خپلو ځانونو
ته وساتئ، خو هرڅه چې زمونږ څښتن خدای مونږ ته راکړي دي
هغه به مونږ خپلو ځانونو ته وساتو. ٢٥ آيا ته د صفور د زوی
بالاق څخه چې د موآب پادشاه ؤ بهتر يې؟ آيا هغه کله د اسراييلو
سره کومه دعوه کړې ده يا يې د هغوی سره جګړه کړې ده؟ ٢٦
درې سوه کاله کيږي چې اسراييليان په حشبون، عروعير او د هغو
شاوخوا کليو او هغو ټولو ښارګوټو کې چې د ارنون د سيند په غاړه
پراته دي اوسيږي. تاسو په هغه وخت کې ولې هغه بېرته ونه نيول؟
٢٧ ما ستا سره څه بدي نه ده کړې، بلکه ته زما سره بدي کوې او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راغلی يې چې جګړه راسره وکړې. څښتن چې قاضي دی، پرېږده
چې هغه نن د اسراييليانو او عمونيانو ترمنځ پرېکړه وکړي چې زمونږ
څخه کوم يو په حقه دی، اسراييل يا عمون.> ۲۸ خو د عمون
پادشاه د يفتاح پيغام ته هيڅ توجه ونه کړه.

۲۹ بيا په يفتاح باندې د څښتن روح نازل شو. څنګه چې هغه د
جلعاد او منسي څخه تېر شو، يو لښکر يې تيار کړ او د جلعاد مصفې
ته راستون شو او له هغه ځای څخه عمون ته لاړ. ۳۰ يفتاح د
څښتن سره قسم وخوړ او ويې ويل: <که چېرې عمونيان ماته په
لاس راکړې، ۳۱ نو کله چې زه په برياليتوب سره راستون شم نو
اولنی نفر چې زما د کور څخه به زما ليدلو ته راووزي، هغه به د
څښتن وي او زه به هغه د سوزېدونکې نذارنې په توګه قرباني کړم.>
۳۲ نو يفتاح له سيند څخه تېر شو او د عمونيانو سره يې جګړه
وکړه او څښتن هغه ته بری ورکړ. ۳۳ هغه د عروعير څخه د منيت
د شاوخوا سيمې پورې او د آبيل کراميم پورې شل ښارګوټې له منځه
يوړل. په هغه ځای کې زياته وژنه وشوه او عمونيانو د اسراييلو له
خوا ماتې وخوړله.

## د يفتاح لور

۳۴ کله چې يفتاح خپل کور ته چې په مصفه کې ؤ راستون شو،
هغه نفر چې د هغه مخې ته ورغی د هغه لور وه، هغې نڅا کوله او
چمبه يې وهله. دا د هغه يوازينی اولاد ؤ. له هغې پرته هغه نه زوی
درلود او نه لور. ۳۵ کله چې هغه خپله لور وليدله نو له غمه يې
خپل کالي وشلول او چيغې يې کړې: <ای زما لورې! تا زما زړه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مات کړ! ولې دې زه وډردولم؟ ما څښتن ته نذر منلی دی او زه نه
شم کولی چې د هغه څخه وګرځم.>

٣٦ هغې ورته وویل: <که چېرې تا د څښتن سره وعده کړې وي،
نو څنګه چې دې ویلي دي هماغسې کار راسره وکړه، ځکه چې
څښتن ستا له دښمنانو یعنې عمونیانو څخه ستا بدله واخیسته.> ٣٧
مګر هغې د خپل پلار څخه دا غوښتنه وکړه: <زما دپاره یو کار
وکړه. ما د دوو میاشتو دپاره پرېږده چې د خپلو ملګرو سره په
غرونو کې وګرځم او هلته ویر وکړم ځکه چې زه به په پېغلتوب کې
مړه شم.>

٣٨ هغه وویل: <لاړه شه> او هغه یې پرېښودله چې د دوو
میاشتو دپاره لاړه شي. هغه د نجونو سره غرونو ته لاړه او ویې ژړل
ځکه چې هغه به ناواده شوې او بې اولاده مړه شي. ٣٩ وروسته له
دوو میاشتو هغه بېرته خپل پلار ته راغله او د هغې پلار چې څښتن
ته کوم نذر منلی ؤ هغه یې پوره کړ او هغه پېغله وه چې مړه شوه.

له دې وروسته دا په اسراییلو کې یو رواج شو ٤٠ چې هر کال به د
اسراییلو پېغلې د څلورو ورځو دپاره وتلې او د جلعادي یفتاح د لور
دپاره به یې ویر کاوه.

## د افرایم د قبیلې او د یفتاح ترمنځ جګړه

١٢ ١ د افرایم نفر د جګړې دپاره تیار شول. هغوی د اردن له

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سيند څخه صافون ته پورې وتل او يفتاح ته يې وويل: <کله چې ته
د عمونيانو سره د جګړې دپاره تللې، مونږ دې ولې د مرستې دپاره
راونه غوښتلو؟ اوس به مونږ ستا کور ستا سره يوځای وسوزوو!>

٢ مګر يفتاح هغوی ته وويل: <ما او زما قوم د عمونيانو سره
سخته شخړه درلوده. ما ستاسو څخه مرسته وغوښتله، خو تاسو
زمونږ سره مرسته ونه کړه. ٣ کله چې ما وليدل چې تاسو مرسته
نه کوئ، نو ما خپل ژوند په خطر کې واچاوه او د هغوی سره د
جګړې دپاره له سرحد څخه واوښتلم او څښتن ماته په هغوی باندې
بری راکړ. اوس راغلي يئ چې زما سره جګړه وکړئ؟> ٤ خو د
افرايم خلکو وويل: <تاسو د جلعاد خلک فقط د افرايم مهاجرين
يئ. او اوس هم په هغې خاوره کې اوسېږئ چې هغه د افرايم او
منسي خاوره ده.>

نو يفتاح د جلعاد لښکرې سره راټولې کړلې. بيا هغوی حمله وکړه او
د افرايم لښکرو ته يې ماتې ورکړه. ٥ جلعاديانو د اردن د سيند
څخه د تېرېدلو ټولې لارې ونيولې چې د افرايميانو د تېښتې مخه
ونيسي. نو کله به چې د افرايميانو څخه کوم يو غوښتل چې د اردن
له سيند څخه تېر شي، نو د جلعاد خلکو به ورڅخه پوښتنه کوله چې
<آيا ته افرايمی يې؟> که چېرې هغه به وويل چې <نه!>، ٦ نو
هغوی به ويل چې <صحيح ده، ته شبولت ووايه.> مګر هغه به
<سبولت> ويل ځکه چې هغه به يې صحيح نه شو تلفظ کولی، نو
هغه نفر به يې نيوه او هلته به يې واژه. په هغه وخت کې دوه
څلوېښت زره افرايميان د اردن د سيند په غاړه ووژل شول.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۷ يفتاح شپږ کاله د اسراييلو مشري وکړه. بيا هغه مړ شو او په
جلعاد کې په خپل ښارګوټي کې ښخ کړای شو.

## ابصان، ايلون او عبدون

۸ له يفتاح څخه وروسته ابصان چې د بيت لحم څخه ؤ د
اسراييلو مشري وکړه. ۹ هغه دېرش زامن او دېرش لورګانې
درلودلې. هغه خپلې لورګانې نورو طايفو ته په نکاح ورکړې او د
نورو طايفو څخه يې دېرش انجونې راوستلې چې خپلو زامنو ته يې
په نکاح کړي. ابصان اووه کاله د اسراييلو مشري وکړه. ۱۰ بيا هغه
مړ شو او په بيت لحم کې ښخ کړای شو.

۱۱ له ابصان څخه وروسته ايلون چې د زبولون د قبيلې څخه ؤ
لس کاله د اسراييلو مشري وکړه. ۱۲ بيا هغه مړ شو او د زبولون د
سيمې په ايالون نومي ځای کې ښخ کړای شو.

۱۳ له ايلون څخه وروسته د هليل زوی عبدون چې د فرعتون
څخه ؤ د اسراييلو مشر شو. ۱۴ هغه څلوېښت زامن او دېرش
لمسيان درلودل چې هر يو به په خپل خر سپرېده. عبدون اته کاله د
اسراييلو مشري وکړه. ۱۵ بيا هغه مړ شو او د افرايم په سيمه
فرعتون کې چې د عماليقيانو په غرنۍ سيمه کې پروت ؤ ښخ کړای
شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٣ ١ اسراییلیانو یو ځل بیا د څښتن په مقابل کې ګناه وکړه.
نو څښتن فلسطینیان پرېښودل چې څلوېښت کاله په هغوی باندې
حکومت وکړي.

٢ په هغه وخت کې د زرعه په ښارګوټي کې یو سړی اوسېده چې
نوم يې مانوح ؤ او د دان له قبیلې څخه ؤ. د هغه ښځه شنډه وه او
اولاد يې نه درلود. ٣ یوه ورځ د څښتن فرښته هغې ښځې ته
ښکاره شوه او ورته ويې ویل: <ته شنډه او بې اولاده یې. خو ژر به
امیدواره شې او زوی به وزېږوې. ٤ پام کوه چې هیڅ شراب یا
بیر ونه څښې او حرام شیان ونه خورې. ٥ کله چې ستا زوی
وشو نو هیڅکله باید د هغه ویښتان ونه خرایې، ځکه چې هغه به د
زېږېدو له ورځې څخه د نذر په توګه خدای ته وقف شي. هغه به
اسراییل د فلسطینیانو څخه وژغورې.>

٦ بیا هغه ښځه خپل مېړه ته ورغله او ورته ويې ویل: <ماته یو
نبي راغی. هغه د خدای د فرښتې په شان ښکارېده او ډېر هیبتناک ؤ.
ما له هغه څخه دا پوښتنه ونه کړه چې ته له کوم ځای څخه راغلی
یې او هغه هم ماته خپل نوم ونه ښوده. ٧ خو هغه راته وویل: ته
به امیدواره شې او یو زوی به وزېږوې. شراب یا بیر به نه څښې او
حرام شیان به نه خورې، ځکه چې دا هلک به له زېږېدو څخه نیولې
د مړینې تر ورځې پورې د نذر په توګه څښتن ته وقف وي.>

٨ بیا مانوح څښتن ته دعا وکړه او ويې ویل: <ای څښتنه، زه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاته سوال کوم، هغه نبي چې تا رالیږلی ؤ هغه پرېږده چې یو ځل بیا راشي او مونږ ته وښايي چې کله هغه هلک پیدا شي د هغه پالنه څنګه وکړو.>

۹ خدای د مانوح غوښتنه قبوله کړه او په داسې حال کې چې هغه
ښځه په پټي کې ناسته وه، فرښته بیرته هغې ته راغله. په هغه وخت
کې د هغې مېړه مانوح له هغې سره نه ؤ. ۱۰ نو هغه په منډه خپل
مېړه ته ورغله او ویې ویل: <هغه سړی چې هغه ورځ ماته ښکاره
شوی ؤ هغه بیا راغلی دی.>

۱۱ مانوح د خپلې ښځې سره روان شو او هغه سړي ته ورغی او
پوښتنه یې ورڅخه وکړه: <آیا ته هغه سړی یې چې زما د ښځې
سره یې خبرې کړې وې؟>

هغه په ځواب کې وویل: <هو.>

۱۲ بیا مانوح وویل: <کله چې ستا خبرې رښتیا شي، هغه هلک
باید څه وکړي؟ هغه باید څه قسم ژوند وکړي؟>

۱۳ د څښتن فرښتې په ځواب کې وویل: <ستا ښځه باید زما په
ټولو خبرو باندې عمل وکړي. ۱۴ هر شی چې د انګورو څخه
جوړیږي هغه باید ونه خوري. هغه دې نه شراب څښبي، نه بیر او نه
دې حرام شیان خوري. هرڅه چې مې ورته ویلي دې په هغو باندې
دې عمل وکړي.>

۱۵-۱۶ مانوح په دې نه پوهېده چې هغه د څښتن فرښته وه. نو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغې ته يې وويل: <مهرباني وکړه تر هغه وخته پورې دلته پاتې شه
ترڅو مونږ تاته يو سېرلی تيار کړو.>

مګر فرښتې په ځواب کې وويل: <که زه پاتې هم شم، ستا ډوډۍ به
ونه خورم. خو که چېرې ته غواړې هغه تياره کړې نو هغه د يوې
نذرانې په توګه څښتن ته وسوزوه.>

١٧ مانوح وويل: <ستا نوم څه دی؟ کله چې ستا خبرې رښتيا
شي نو بيا به مونږ ستا عزت کوو.>

١٨ فرښتې پوښتنه وکړه: <ته ولې غواړې چې زما نوم وپېژنې؟
ځکه چې زما د نوم په معنیٰ باندې پوهېدل د انسان د قدرت څخه
وتلی کار دی.>

١٩ نو مانوح يو سېرلی او يو څه غلې دانې واخيستل او په يو ګټ
باندې يې څښتن ته وړاندې کړل. څښتن د مانوح او د هغه د ښځې د
سترګو په وړاندې داسې عجيبه کار وکړ: ٢٠-٢١ څنګه چې د اور
لمبه د قربانۍ د ځای څخه د اسمان په لوري پورته شوه، نو مانوح او
د هغه ښځې وليدل چې د څښتن فرښته هم په هغې لمبې کې اسمان
ته پورته شوه. نو بيا مانوح پوه شو چې هغه سړی د څښتن فرښته وه
او مانوح او د هغه ښځه په ځمکه باندې پړمخې پرېوتل. هغوی بيا
هيڅکله هغه فرښته ونه ليدله.

٢٢ مانوح خپلې ښځې ته وويل: <مونږ به په رښتيا سره مړه شو،
ځکه چې خدای مو ليدلی دی!>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٣ مګر د هغه ښځې په خوب کې ووېل: >که چېرې څښتن
زمونږ د وژلو نیت درلودلی، نو هغه به زمونږ نذرانې قبولې کړې نه
وای او نه به یې مونږ ته دا ټول شیان ښودلي وای او نه به یې مونږ ته
په دې وخت کې دا خبرې کړې وای.>

٢٤ هغې ښځې یو هلک وزېږاوه او په هغه باندې یې شمشون نوم
کېښود. هغه لوی شو او څښتن هغه ته برکت ورکړ. ٢٥ او هغه
وخت چې شمشون د زرعه او اشتاول ترمنځ د دان په کمپ کې ؤ، د
څښتن روح د هغه په قوي کولو شروع وکړه.

## د شمشون واده

١٤ ١ یوه ورځ شمشون تمنې ته لاړ او هلته یې یوه فلسطینۍ
نجلۍ ولیدله. ٢ کله چې هغه بېرته کور ته راستون شو نو خپل
مور او پلار ته یې ووېل: >ما په تمنه کې یوه فلسطینۍ نجلۍ ولیدله.
هغه ماته وکړئ، زه غواړم چې د هغې سره واده وکړم.>

٣ مګر مور او پلار یې ورځخه پوښتنه وکړه: >آیا ستا د قوم او
خپلوانو په منځ کې نجلۍ نشته چې ته غواړې په هغو کافرو
فلسطینیانو کې ښځه وکړې؟>

مګر شمشون خپل پلار ته ووېل: >همدا نجلۍ راته وکړئ. هغه زما
خوښه ده.>

٤ د هغه مور او پلار نه پوهېدل چې دا کار د څښتن له طرفه ؤ،

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چې ښځېنتن یوه موقع کتله چې د فلسطینیانو په مقابل کې کوم
عمل وکړي. په هغه وخت کې فلسطینیانو په اسراییلو باندې حکومت
کاوه.

۵ نو شمشون د خپل مور او پلار سره تمنې ته روان شو. د تمنې
د انګورو باغونو ته نژدې یو ځوان زمري په شمشون باندې حمله
وکړه. ۶ یوناڅاپه د ښځېنتن روح هغه قوي کړ او هغه په تشو
لاسونو زمری دوه ټوټې کړ لکه یو سېرلی چې دوه ټوټې شي. مګر
هغه خپل مور او پلار ته په دې هکله څه ونه ویل.

۷ بیا هغه لاړ او د هغې نجلۍ سره یې خبرې وکړې او هغه یې
خوښه شوه. ۸ څه موده وروسته کله چې شمشون د هغې سره د
واده کولو دپاره بېرته روان شو، هغه د لارې څخه راوګرځېد چې د
هغه زمري جسد ووینې کوم یې چې وژلی ؤ. هغه زمري ته وکتل او
حیران شو چې د هغه په بدن کې ډېرې د شاتو مچۍ او شات وو.
۹ هغه په خپلو لاسونو یو څه شات راوتوړل او په لاره کې یې
وخوړل. بیا هغه خپل مور او پلار ته ورغی او هغوی ته یې هم لږ
ورکړل او هغوی وخوړل. مګر شمشون هغوی ته ونه ویل چې دا
شات یې د مړه زمري له بدن څخه راخیستي وو.

۱۰ د هغه پلار د واده دپاره تیاری نیوه چې شمشون هلته په تمنه
کې یوه مېلمستیا چې په هغې زمانه کې د ځوانانو ترمنځ رواج ؤ
جوړه کړه. ۱۱ کله چې فلسطینیانو ولیدل چې شمشون څه قسم
سړی دی، نو هغوی خپلو دېرشو ځوانانو ته وویل چې د هغه سره په
مېلمستیا کې پاتې شي. ۱۲ شمشون هغوی ته وویل: <اجازه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راکړئ چې تاسو ته یوه معما ووایم. که چېرې تاسو ماته د مېلمستیا
په اووه ورځو کې د هغې ځواب راکړ، زه به تاسو ته د کتان دېرش
جوړه ساده کالي او دېرش جوړه ښکلي کالي درکړم. ١٣ خو که
چېرې تاسو ځواب رانکړ، تاسو باید ماته دېرش جوړه د کتان ساده
کالي او دېرش جوړه ښکلي کالي راکړئ.>

هغوی ورته وویل: <ته خپله معما مونږ ته ووایه چې مونږ یې
واورو.>

١۴ هغه وویل:

له خوړونکي څخه د خوړلو شی راووت

له زورور څخه یو خوږ شی راووت

له دریو ورځو وروسته بیاهم هغوی ونه شو کولی چې د معما ځواب
پیدا کړي.

١۵ په څلورمه ورځ هغوی د شمشون ښځې ته وویل: <ته خپل
مېړه وغولوه چې مونږ ته د دې معما معنیٰ ووایي او که نه، نو مونږ به
تا او ستا د پلار کورنۍ وسوزوو. آیا تاسو مونږ دلته د دې دپاره
راغوښتي یو چې لوټ مو کړئ؟>

١۶ بیا د شمشون ښځه خپل مېړه ته په ژړا ورغله او ویې ویل:
<زه دربانديې ګرانه نه یم! ته زما څخه کرکه کوې. تا زما وطندارانو
ته یوه معما ویلې ده، مګر د هغې معنیٰ دې ماته نه ده ویلې!>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شمشون وویل: <ما حتیٰ خپل مور او پلار ته هم نه دي ویلي، نو
تاته يې ولې وواېم؟> ۱۷ هغې د مېلمستیا په ټولو اوو ورځو کې
وژړل. خو په اوومه ورځ هغه ورته د معما معنیٰ وویله، ځکه چې
هغه يې ډېر تنګ کړ. بیا هغې د معما ځواب هغو ځوانانو ته وواېه.
۱۸ په اوومه ورځ د لمر پرېواته څخه مخکې د ښارګوټي خلک
هغه ته راغلل او ویې ویل:

د شاتو څخه به څه شی ډېر خوږ وي؟

د زمري څخه به څه شی ډېر قوي وي؟

شمشون ځواب ورکړ:

زما په غوا باندې که تاسو قلبه کړې نه وای

نو دا معما به مو حل کړې نه وای

۱۹ یوناڅاپه د خښتن روح هغه قوي کړ او هغه د اشقلون ښار ته
لاړ او د هغه ځای دېرش نفره يې ووژل. هغوی يې لوټ کړل او د
هغوی جامې يې هغو خلکو ته ورکړې چې معما يې حل کړې وه. بیا
هغه ډېر په قهر سره بېرته د خپل پلار کور ته لاړ. ۲۰ او د شمشون
ښځه د هغه ملګري ته چې په واده کې يې د هغه خدمت کاوه واده
شوه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د فلسطینیانو څخه د شمشون بدل اخیستنه

۱۵ ۱ څه موده وروسته د غنمو د لو په وخت کې شمشون د
خپلې ښځې د لیدلو دپاره ورغی او هغې ته یې د سوغات په توګه یو
سېرلی یووړ. شمشون د هغې پلار ته وویل: <زه غواړم چې د خپلې
ښځې کوټې ته لاړ شم.>

مګر هغه ورته اجازه ورنه کړه چې دننه لاړ شي. ۲ هغه شمشون
ته وویل: <ما په رښتیا فکر کاوه چې ته له هغې څخه کرکه کوې، نو
هغه ما ستا ملګري ته ورکړه. خو د هغې کشره خور له هغې څخه
ډېره ښایسته ده، د دې په ځای ته کولی شې د هغې سره واده
وکړې.>

۳ شمشون وویل: <دا ځل چې په فلسطینیانو باندې هرڅه وکړم
زه به بې ګناه یم!> ۴ نو هغه لاړ او درې سوه ګیدړان یې ونیول
او یوه یوه جوړه یې لکۍ په لکۍ سره وتړل. بیا هغه د لکیو په هرې
جوړې پورې یو یو څراغ وتاړه. ۵ بیا یې څراغونو ته اور واچاوه
او ګیدړان یې د فلسطینیانو په ولاړو فصلونو کې خوشې کړل. هغه د
ګېډیو انبارونه او ولاړ فصلونه د انګورو او زیتونو د باغونو سره
وسوزول. ۶ کله چې فلسطینیانو پوښتنه وکړه چې <دا کار چا
کړی دی؟>، کوم چا هغوی خبر کړل چې <دا کار شمشون کړی
دی ځکه چې د هغه خسر چې د تمني څخه دی، د شمشون ښځه د
هغه ملګري ته واده کړې وه.> نو فلسطینیان لاړل او هغه ښځه او د
هغې پلار یې ژوندي وسوزول.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ شمشون هغوی ته وویل: <څرنګه چې تاسو داسې کار کړی
دی، نو زه قسم خورم ترڅو چې ستاسو څخه مې د هغوی بدل نه
وي اخیستی تر هغې پورې به ارام نه کښېنم.> ٨ شمشون په
هغوی باندې ډېره سخته حمله وکړه او ډېر نفر يې ورڅخه ووژل. بیا
هغه لاړ او د عیطام د ګټې په سمڅه کې اوسېده.

## فلسطینیانو ته د شمشون له خوا ماتې

٩ فلسطینیان لاړل او د یهودا په سیمه کې يې خېمې ودرولې او د
لحي په ښارګوټي باندې يې حمله وکړه. ١٠ د یهودا خلکو پوښتنه
وکړه: <تاسو ولې په مونږ باندې حمله کوئ؟>

هغوی په ځواب کې وویل: <مونږ د دې پاره راغلي يو چې شمشون
ونیسو او هغه کار ورسره وکړو کوم چې هغه زمونږ سره وکړ.> ١١
نو د یهودا درې زره نفره د عیطام د ګټې سمڅې ته لاړل او شمشون
ته يې وویل: <ته خبر نه يې چې فلسطینیان په مونږ باندې حکومت
کوي؟ تا زمونږ سره څه وکړل؟>

هغه په ځواب کې وویل: <کوم کار چې هغوی زما سره کړی ؤ، ما
هم د هغوی سره هماغسې کار وکړ.>

١٢ هغوی ورته وویل: <مونږ د دې دپاره راغلي يو چې تا وتړو
او فلسطینیانو ته دې وسپارو.>

شمشون وویل: <زما سره قسم وخورئ چې تاسو به مې په خپله نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وژنئ.>

۱۳ هغوی وویل: <صحیح ده، مونږ به ستا لاسونه وتړو او هغوی ته به دې وسپارو. مونږ به تا نه وژنو.> نو هغوی په دوو نویو رسۍ ګانو باندې د هغه لاسونه وتړل او د ګټې څخه یې بېرته راوست.

۱۴ کله چې شمشون لحي ته ورسېد، فلسطینیان په منډه د هغه خواته ورغلل او چیغې یې وهلې. یوناڅاپه د څښتن روح هغه قوي کړ او هغه رسۍ ګانې یې چې د هغه لاسونه ورباندې تړل شوي وو لکه د سوزېدلي کتان په شان وشلولې او هغه ولوېدلې. ۱۵ بیا شمشون د یوه داسې خره د ژامې هډوکی پیدا کړ چې په هماغو نژدې وختونو کې مردار شوی ؤ. هغه خپل لاس وراوږد کړ، هغه یې راواخیست او زر تنه یې ورباندې ووژل. ۱۶ نو شمشون وویل:

ما زر نفره ووژل

د خره د ژامې په هډوکي باندې

ما د مړو څخه جوړې ډېرې ګانې کړلې

د خره د ژامې په هډوکي باندې

۱۷ کله چې هغه خپلې خبرې خلاصې کړې، نو د ژامې هډوکی یې په ځمکه وغورزاوه او هغه ځای یې د ژامې د هډوکي د غونډۍ په نوم یاد کړ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۸ بیا شمشون ډېر تږی شو، نو هغه څښتن ته فریاد وکړ او ویې
ویل: <تا خپل بنده ته داسې لوی بری ورکړ. آیا اوس به له تندې
څخه مړ کېږم او دې کافرو فلسطینیانو ته به په لاس ورځم؟> ۱۹
بیا خدای هلته په لحي کې په ځمکه کې د یو تش ځای څخه اوبه
جاري کړلې. شمشون هغه وڅښلې او بیا یې قوت وموند او تازه شو.
نو هغه چینه یې د فریاد کوونکي د چینې په نوم یاده کړه او هغه تر
اوسه پورې په لحي کې ده. ۲۰ شمشون د فلسطینیانو د واکمنۍ په
دوران کې شل کاله د اسراییلو یو مشر ؤ.

## شمشون په غزه کې

# ۱۶
۱ یوه ورځ شمشون د فلسطینیانو ښار غزې ته لاړ او هلته
هغه یوه فاحشه ولیدله او د هغې کور ته ورغی چې شپه ورسره تېره
کړي. ۲ د غزې خلک خبر شول چې شمشون هلته دی. نو هغوی
هغه ځای محاصره کړ او هغه ته یې ټوله شپه د ښار په دروازه کې
انتظار وکړ. هغوی ټوله شپه غلي وو او د ځانونو سره یې ویل:
<مونږ به د سهار تر رڼا کېدلو پورې صبر وکړو او بیا به یې ووژنو.>
۳ مګر شمشون تر نیمې شپې پورې هلته په بستره کې پروت ؤ.
بیا هغه پاڅېده او د ښار دروازه یې د هغې د چوکاټ سره راونیوله او
د اړم او ټولو شیانو سره یې وویستله. هغه یې په خپلو اوږو باندې
کېښوده او د هغې غونډۍ سرته یې چې حبرون ته مخامخ وه یوړله.

## شمشون او دلیله

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴ څه موده پس، شمشون په یوې نجلۍ باندې چې دلیله نومېدله
مین شو، څوک چې د سورق په دره کې اوسېدله. ۵ د فلسطینیانو
مشران هغې ته ورغلل او ورته ویې ویل: <شمشون وغولوه چې تاته
ووایي چې هغه ولې دومره قوي دی. همدارنګه مونږ څنګه وکولی
شو هغه مغلوب کړو ترڅو هغه وتړو او کمزوری یې کړو. که دا کار
وکړې نو مونږ هر یو به تاته یوولس سوه مثقاله سپین زر درکړو.>

۶ نو دلیلې شمشون ته وویل: <مهرباني وکړه ماته ووایه چې ته
ولې دومره قوي یې. څنګه څوک کولی شي چې تا وتړي او کمزوری
دې کړي؟>

۷ شمشون په ځواب کې وویل: <که چېرې څوک ما د لیندې په
اوو نویو مزو باندې چې وچ شوي نه وي وتړي، نو زه به کمزوری
شم او د عادي خلکو په شان به شم.>

۸ نو فلسطیني مشرانو دلیلې ته د کمان اووه نوي مزي چې وچ
شوي نه وو راوړل او هغې شمشون وتاړه. ۹ دلیلې یو څو نفره د
خپل کور په بله کوټه کې پټ کړي وو، نو هغې شمشون ته غږ وکړ:
<سامسونه، فلسطینیان راغلي دي چې تا ونیسي!> مګر شمشون
هغه مزي لکه د اومړي په شان چې په اور کې سوزېدلی وي
وشکول. نو هغوی د شمشون د زور په راز پوه نه شول.

۱۰ بیا دلیلې شمشون ته وویل: <تا په ما باندې ملنډې ووهلې او
دروغ دې راته وویل. اوس ماته ووایه چې تا څنګه څوک تړلی
شي.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۱ هغه وویل: <که چېرې څوک ما په داسې رسیو باندې وتړي
چې هیڅ کار ورڅخه اخیستل شوی نه وي، نو زه به کمزوری شم او
د عادي خلکو په شان به شم.>

۱۲ نو دلیلې نوې رسۍ راواخیستې او شمشون يې ورباندې وتاړه.
د مخکې ځل په شان نفر په بله کوټه کې پټ وو. هغې شمشون ته غږ
وکړ: <سامسونه، فلسطینیان راغلي دي چې تا ونیسي!> مګر هغه د
خپلو لاسونو څخه رسۍ لکه د تارونو په شان وشکولې.

۱۳ بیا دلیلې شمشون ته وویل: <ته تر اوسه پورې په ما باندې
ملنډې وهې او ماته درواغ وایې. اوس راته ووایه چې تا څنګه څوک
تړلی شي.>

هغه په ځواب کې وویل: <که چېرې ته زما د سر اووه کوڅۍ په
کارګاه باندې د تار سره واوبې او په یو مېخ باندې يې کلکې کړې، نو
زه به د نورو خلکو په شان کمزوری شم.> نو په هغه وخت کې چې
هغه ویده ؤ، دلیلې د هغه د سر اووه کوڅۍ له تار سره واوبدلې ۱۴
او په مېخ باندې يې کلکې کړې.

هغې بیا شمشون ته غږ وکړ: <سامسونه، فلسطینیان راغلي دي چې
تا ونیسي!> هغه د خوب څخه راویښ شو او کارګاه يې د مېخ او
تارونو سره راوویستله.

۱۵ نو دلیلې هغه ته وویل: <ته څنګه وایې چې زه درباندې ګرانه
یم، حال دا چې ته په ما باندې باور هم نه کوې؟ دا دریم ځل دی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې ته په ما باندې ملنډې وهې او د خپل زور راز دې ماته نه
وایې.> ۱۶ دلیلې په دې خبرو باندې چې هره ورځ به یې شمشون
ته کولې، هغه ډېر تنګ کړ. ۱۷ نو شمشون آخر هغې ته خپل راز
ووایه. هغه وویل: <زما د سر ویښتان هیڅکله خریل شوي نه دي،
ځکه چې زه د زیږېدو له وخت څخه خدای ته د نذر په توګه وقف
شوی یم. که چېرې زما سر وخریل شي، نو زه به خپل قوت له لاسه
ورکړم او د نورو خلکو په شان به کمزوری شم.>

۱۸ کله چې دلیله پوه شوه چې شمشون ورته حقیقت بیان کړ، نو
هغې د فلسطینیانو مشرانو ته دا خبر ورولېږه: <تاسو یو ځل بیا
راشئ شمشون ماته خپل راز بیان کړ.> نو هغوی راغلل او هغه
پیسې چې د هغې سره یې وعده کړې وه له ځانه سره راوړې. ۱۹
دلیلې شمشون په خپل زنګون باندې ویده کړ، بیا هغې یو سړی
راوغوښت او د شمشون د ویښتو اووه کوڅۍ یې وخریلې. نو دلیلې
هغه کمزوری کړ او هغه خپل قوت له لاسه ورکړ. ۲۰ بیا هغې
شمشون ته غږ کړ: <سامسونه، فلسطینیان راغلي دي چې تا
ونیسي!> هغه له خوبه راویښ شو او فکر یې وکړ چې زه به د
مخکې په شان په یو ټکان سره خپل ځان ازاد کړم. مګر شمشون نه
پوهېده چې څښتن هغه پرېښی ؤ. ۲۱ فلسطینیانو هغه ونیوه،
سترګې یې ورڅخه وویستلې او غزې ته یې یووړ. هلته هغوی
شمشون په برنجي زولنو وتاړه، په زندان کې یې واچاوه او مجبور یې
کړ چې غلې دانې مېچن کړي. ۲۲ مګر له خریلو څخه وروسته د
هغه ویښتانو بیا په راشنه کېدلو شروع وکړه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د شمشون مړينه

۲۳ د فلسطينيانو مشران سره راغونډ شول چې جشن ونيسي او
خپل خدای داجون ته يوه لويه قرباني وړاندې کړي. هغوی ووېل:
<زمونږ خدای مونږ ته په خپل دښمن شمشون باندې بری راکړی
دی!> ۲۴-۲۵ هغوی خوشالي کوله او ويې ويل: <شمشون ته
غږ کړئ چې خپل ساعت ورباندې تېر کړو!> کله چې هغوی
شمشون له زندان څخه راوويست، هغه يې مجبور کړ چې د دوی
دپاره ساعت تېري جوړه کړي، نو هغه يې د ستنو ترمنځ ودراوه. کله
چې خلکو هغه وليد، نو د خپل خدای ستاينه يې وکړه او ويې ويل:
<زمونږ خدای مونږ ته په خپل هغه دښمن باندې بری راکړی دی
چې زمونږ هېواد يې وران کړ او زمونږ ډېر خلک يې ووژل!> ۲۶
شمشون هغه هلک ته چې دی يې له لاسه نيولی ؤ ووېل: <ما
پرېږده چې په هغو ستنو باندې لاس کېږدم چې دغه ودانۍ ورباندې
ولاړه ده. زه غواړم چې تکيه ورباندې وکړم.> ۲۷ هغه عبادتخانه
له سړيو او ښځو څخه ډکه وه. د فلسطينيانو ټول مشران هلته موجود
وو او په بام باندې نژدې درې زره سړي او ښځې وې چې شمشون
ته يې کتل چې د هغوی دپاره يې ساعت تېري کوله.

۲۸ بيا شمشون ښښتن ته دعا وکړه: <ای ښښتن تعالیٰ، ما در په
ياد کړه. ای خدايه يوازې يو ځل بيا ماته قوت راکړه چې د
فلسطينيانو څخه د خپلو سترګو بدل واخلم.> ۲۹ نو شمشون هغه
دوه منځنۍ ستنې چې ودانۍ ورباندې ولاړه وه ونيولې، يو لاس يې
په يوې او بل لاس يې په بلې ستنې باندې کېښود. ستنې يې ټېل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وهلې ۳۰ او چیغې یې کړې: <پرېږده چې د فلسطینیانو سره یو
ځای مړ شم!> هغه په خپل ټول قوت سره ستنې ټېل وهلې او هغه
ودانۍ په ټولو مشرانو او نورو خلکو باندې چې په هغه ځای کې وو
راولوېده. نو په دې ډول د هغو خلکو شمېر چې شمشون د خپل
مرګ په وخت کې ووژل د هغو خلکو څخه زیات ؤ کوم چې هغه په
خپل ټول ژوندانه کې وژلي وو.

۳۱ د هغه ورونه او پاتې کورنۍ راغله چې د هغه مړی یوسي.
هغوی د شمشون مړی بېرته یووړ او د خپل پلار مانوح په هدیره کې
یې چې د زرعه او اشتاول ترمنځ پرته وه، ښخ کړ. شمشون شل کاله
د اسراییلو مشر ؤ.

## د میکا بتان

۱۷ ۱ د افرایم په غرنۍ سیمه کې یو سړی چې نوم یې میکا ؤ
اوسېده. ۲ یوه ورځ هغه خپلې مور ته وویل: <آیا هغه یوولس
سوه مثقاله سپین زر دې په یاد دي چې ستا څخه غلا شوي وو؟ کله
چې تا هغه نفر ته چې هغه یې پټ کړي وو ښېرې وکړلې زه په هغه
ځای کې وم. دا کار ما کړی ؤ.>

مور یې وویل: <زویه څرنګه چې تا اقرار وکړ نو څښتن دې تاته
برکت درکړي!> ۳ هغه سپین زر بېرته خپلې مور ته ورکړل او
هغې وویل: <زه دا سپین زر د خپل زوی له خوا څښتن ته وقف
کوم. له دې څخه به د لرګي د بت په جوړولو کې چې د سپینو زرو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پوښ به ورته ورکړل شي کار واخيستل شي. نو زه به دا سپين زر
بېرته تاته درکړم.> ۴ خو هغه دا سپين زر بېرته خپلې مور ته
ورکړل. هغې دوه سوه مثقاله سپين زر واخيستل او يو زرګر ته يې
ورکړل او هغه د لرګي يو بت جوړ کړ او د سپينو زرو پوښ يې ورته
ورکړ. بيا يې هغه د ميکا په کور کې کېښود.

۵ ميکا بتخانه درلوده. هغه يو څو بتان او يو سپېڅلی پېشبند جوړ
کړ او له خپلو زامنو څخه يې يو تن د خپل کاهن په توګه وټاکه. ۶
په هغه زمانه کې اسراييلو پادشاه نه درلود، نو هرچا به هغه کارونه
کول چې زړه يې غوښتل.

۷ په دې وخت کې يو ځوان لاوي ؤ چې د يهودا د بيت لحم په
ښارګوټي کې اوسېده. ۸ هغه د بيت لحم څخه لاړ چې د اوسېدلو
دپاره کوم بل ځای پيدا کړي. هغه په لاره کې د ميکا کور ته چې د
افرايم په غرنی سيمه کې ؤ راغی. ۹ ميکا له هغه څخه پوښتنه
وکړه: <ته د کوم ځای څخه راغلی يې؟>

هغه په ځواب کې وويل: <زه لاوي يم او په يهودا کې د بيت لحم يم.
د اوسېدلو دپاره ځای لټوم.>

۱۰ ميکا وويل: <زما سره واوسېږه او زما مشاور او کاهن شه. زه
به تاته په کال کې لس مثقاله سپين زر، يو څه کالي او ډوډۍ
درکوم.> ۱۱-۱۲ نو هغه ځوان لاوي په دې راضي شو چې د
ميکا سره واوسيږي او ميکا هغه د کاهن په توګه وټاکه. هغه د ميکا
په کور کې اوسېده او ميکا د هغه سره لکه د خپلو زامنو په شان رويه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوله. ١٣ میکا وویل: <اوس زه پوهېږم چې څښتن به راته برکت
راکړي، ځکه چې دغه لاوي زما کاهن دی.>

## د دان قبیلې له خوا د میکا کاهن او بتانو وړل

**١٨** ١ په هغې زمانه کې اسراییلو پادشاه نه درلود. د دان قبیلې
یو ځای لټاوه چې په کې واوسېږي، ځکه چې هغوی لا تر هغه وخته
پورې د اسراییلو د قبیلو په منځ کې خپله ځمکه ترلاسه کړې نه وه.
٢ نو د دان د قبیلې خلکو د خپلو طایفو څخه پنځه تنه جنګي
نفر له زرعه او اشتاول څخه ولېږل چې د هغې خاورې وضع وڅېړي
چې هغوی غوښتل په کې واوسېږي. کله چې هغه نفر د افرایم غرنۍ
سیمې ته ورسېدل نو د میکا کور ته راغلل او هلته یې شپه تېره کړه.
٣ هغوی په هغه ځای کې د ځوان لاوي لهجه وپېژندله، نو هغوی
ورغلل او پوښتنه یې ورڅخه وکړه: <ته دلته څه کوې؟ چا دلته
راوستی یې؟>

٤ هغه ځواب ورکړ: <ما د میکا سره یو قرارداد کړی دی او هغه
ماته د کاهنتوب د خدمت په بدل کې اجوره راکوي.>

٥ بیا هغوی ورته وویل: <مهرباني وکړه د خدای څخه سوال
وکړه چې مونږ به په دې سفر کې بریالي شو که نه.>

٦ کاهن هغوی ته په ځواب کې وویل: <په خیر لاړ شئ، څښتن
به تاسو په دې سفر کې وساتي.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ نو هغه پنځه نفره روان شول او د لایش ښار ته لاړل. هغوی
ولیدل چې د هغه ځای خلک د صیدونیانو په شان په سوله او امن
کې ژوند کوي. هغوی ارام خلک وو او په خاطر جمعۍ سره یې ژوند
تېراوه. د هغوی سره د هیڅ شي کمی نه ؤ. هغوی له صیدونیانو څخه
لیرې اوسېدل او د بل چا سره یې معامله نه درلودله. ٨ کله چې
هغه نفر بېرته زرعه او اشتاول ته راستانه شول، نو خلکو ورڅخه
پوښتنه وکړه چې <تاسو څه خبر راوړی دی؟> ٩ هغوی په
ځواب کې وویل: <راځئ چې په لایش باندې حمله وکړو. مونږ هغه
ځمکه ولیدله، هغه ډېره ښه ځمکه ده. زړه نازړه کېږئ مه! لاړ شئ او
هغه ونیسئ! ١٠ کله چې هلته ورسېدلئ، تاسو به ووینئ چې هغه
بې غمه خلک دي. هغه یو لوی وطن دی هرڅه چې وغواړئ هلته
شته او خدای هغه تاسو ته درکړی دی.>

١١ نو د دان د قبیلې څخه شپږ سوه تنه د جګړې دپاره تیار شول
او د زرعه او اشتاول څخه روان شول. ١٢ هغوی لاړل او د یهودا د
قریت یعاریم د ښار په لوېدیځ کې یې خیمې ودرولې. په دې خاطر
هغه ځای تر نن ورځې پورې د دان د کمپ په نوم یادیږي. ١٣ بیا
هغوی له هغه ځای څخه لاړل او د میکا کور ته چې د افرایم په
غرنۍ سیمه کې ؤ ورغلل.

١٤ هغو پنځو نفرو چې د لایش خاوره یې کتلې وه خپلو ملګرو ته
وویل: <آیا تاسو پوهېږئ چې له دغو کورونو څخه په یو کور کې د
لرګیو بت دی چې د سپینو زرو پوښ ورته ورکړل شوی دی؟ هلته
نور بتان او سپېڅلی پیشبند هم شته. تاسو څه فکر کوئ چې څه باید

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړو؟> ۱۵ نو هغوی د میکا کور ته چې هغه ځوان لاوي په کې
اوسېده ننوتل او د هغه لاوي څخه يې د هغه د احوال پوښتنه وکړه.
۱۶ په دې وخت کې د دان شپږ سوه عسکر چې په وسلو باندې
سمبال وو، د دروازې په خوله کې ولاړ وو. ۱۷ په داسې حال کې
چې کاهن د شپږ سوه وسله والو نفرو سره د دروازې په خوله کې
ولاړ ؤ، هغه پنځه جاسوسان دننه ننوتل او په سپینو زرو باندې پوښل
شوی بت، نور بتان او سپېڅلی پېشبند يې راواخيستل.

۱۸ کله چې کاهن ولیدل چې دا نفر سپېڅلي شیان وړي، نو د
هغوی څخه يې پوښتنه وکړه: <تاسو څه کوئ؟>

۱۹ هغوی وویل: <غلی شه! خوله دې بنده کړه! زمونږ سره راځه
او زمونږ کاهن او مشاور شه. تاته کومه خبره ښه ښکاري، چې د یو
نفر د کورنۍ کاهن شې او که د اسراییلو د یوې قبیلې کاهن شې؟>
۲۰ په دې خبره کاهن ډېر خوشاله شو. نو هغه سپېڅلي شیان
واخیستل او د هغوی سره لاړ.

۲۱ هغوی خپل ماشومان، حیوانات او خپله شتمني مخکې کړل او
په خپله لاره روان شول. ۲۲ کله چې هغوی د میکا له کور څخه
یو څه لیرې لاړل، نو میکا خپل ګاونډیان د جګړې دپاره راوغوښتل
او هغوی د دان د نفرو پسې روان شول. ۲۳ څنګه چې هغوی ته
وررورسېدل نو غږ يې ورباندې وکړ چې ودرېږي. د دان نفر
راوګرځېدل او له میکا څخه يې پوښتنه وکړه: <څه خبره ده؟ دا نفر
دې ولې راغونډ کړي دي او مونږ تعقیبوې؟>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۴ میکا په ځواب کې وویل: <تاسو زما کاهن او هغه خدایان چې
ما جوړ کړي وو، یوړل. هیڅ شی مو راته نه دی پریښی. بیا څنګه
زما څخه پوښتنه کوئ چې څه خبره ده؟>

۲۵ د دان سړیو په ځواب کې وویل: <زمونږ سره بحث مه کوه
هسې نه چې زمونږ ځینې بدخویه نفر درباندې حمله وکړي او ته او
ستا کورنی به ووژل شي.> ۲۶ نو بیا د دان سړي په خپله لاره
روان شول. میکا ولیدل چې هغوی درباندې ډېر قوي دي، نو هغه
بېرته خپل کور ته ستون شو. ۲۷-۲۸ کله چې د دان سړیو کاهن
او هغه شیان چې میکا جوړ کړي وو یوړل، نو هغوی د لایش په
ښارګوټي باندې چې ارام او بې غمه خلک په کې اوسېدل حمله
وکړه. هغه ښارګوټی بیت رحوب ته نژدې په یوه دره کې ؤ. هغوی
خلک ووژل او ښارګوټی یې وسوزاوه. هیڅوک نه ؤ چې هغوی
وژغوري، ځکه چې هغوی د صیدون څخه لېرې اوسېدل او د نورو
خلکو سره یې سروکار نه درلود. د دان سړیو هغه ښارګوټی بېرته
ودان کړ او په کې واوسېدل. ۲۹ د هغه ښارګوټي نوم یې د لایش
څخه په دان باندې بدل کړ، یعنې د یعقوب د زامنو څخه د یو زوی په
نوم چې د هغوی د قبیلې نیکه ؤ. ۳۰ د دان سړیو د خپلو ځانونو
دپاره د میکا بت ودراوه او یوناتان د جرشوم زوی او د موسیٰ لمسي
د دان د قبیلې دپاره د کاهن په توګه خدمت کاوه. د هغه اولادې تر
هغې پورې د کاهنانو په توګه خدمت کاوه ترڅو چې هغه خلک
جلاوطنه شول. ۳۱ سره له دې چې د خدای کور په شیلوه کې ؤ،
خو د دان خلکو هغه بت ته عبادت کاوه چې میکا جوړ کړی ؤ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٩ ١ په هغې زمانه کې چې اسراییلو پادشاه نه درلود، د لاوي
د قبیلې یو نفر چې د افرایم د غرنۍ سیمې په یو لېرې ځای کې
اوسېده، د بیت لحم څخه چې د یهودا په سیمه کې ؤ یوه وینځه وکړه.
٢ مګر هغه وینځه یعنې د لاوي ښځه له لاوي څخه خفه شوه او
بېرته د خپل پلار کور ته چې په بیت لحم کې ؤ لاړه او څلور میاشتې
هلته پاتې شوه. ٣ بیا د هغې مېړه پرېکړه وکړه چې د هغې پسې
لاړ شي او هغه تشویق کړي چې بېرته راشي. نو خپل نوکر او دوه
خره یې له ځان سره واخیستل. کله چې د خپل خسر کور ته
ورسېده، ښځې یې هغه دننه راوست. کله چې د هغې پلار هغه ولید،
نو د هغه په لیدلو خوشاله شو او هرکلی یې ورته ووایه. ٤ د هغه
خسر ټینګار وکړ چې هغه پاتې شي، نو هغه هلته درې ورځې پاتې
شو. هغوی هلته خپله ډوډۍ خوړله او شپې یې تېرولې. ٥ د
څلورمې ورځې په سهار هغوی وختي پاڅېدل او تګ ته تیار شول.
مګر خسر خپل زوم ته وویل: <اول یو څه وخورئ چې د سفر
دپاره تکړه شئ او وروسته به بیا لاړ شئ.>

٦ نو هغوی دواړه سره کښېناستل او ویې خوړل او ویې څښل. بیا
خسر یې ورته وویل: <مهرباني وکړئ نن شپه هم زمونږ سره پاتې
شئ چې په خوشالۍ سره یې تېره کړئ.>

٧ لاوي کوښښ کاوه چې لاړ شي، مګر خسر یې ورڅخه په
کلکه وغوښتل چې پاتې شي، نو هغه بله شپه هم هلته پاتې شو. ٨
د پنځمې ورځې په سهار هغه وختي پاڅېده چې لاړ شي، مګر د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښځې پلار وویل: <یو څه وخورئ، بیا کولی شئ چې ماسپښین لاړ
شئ.> نو هغو دواړو یوځای ډوډی وخوړه.

۹ کله چې هغه سړی او د هغه وینځه او نوکر پاڅېدل چې لاړ
شي، د هغه خسر وویل: <ګورئ، اوس ورځ تېره شوې ده او ماښام
نژدې دی. یوه بله شپه هم زمونږ سره پاتې شئ او خوشاله اوسئ. بیا
کولی شئ چې سهار وختي پاڅېږئ او خپل کور ته لاړ شئ.> ۱۰-
۱۱ مګر هغه سړي نه غوښتل چې بله شپه هلته تېره کړي. نو هغه
په خپلو دواړو خرو باندې کټې واچولې او د خپلې وینځې او نوکر
سره روان شو. کله چې هغوی د ورځې ناوخته یبوس (اورشلیم) ته
نژدې شول، نو نوکر خپل بادار ته وویل: <راځئ چې دلته ودرېږو او
د یبوسیانو په ښار کې شپه تېره کړو.> ۱۲ مګر بادار یې وویل:
<نه، مونږ به دې پردي ښار کې چې اسراییلیان په کې نشته نه پاتې
کېږو. مونږ به جبعې ته لاړ شو. ۱۳ راځئ کوښښ وکړو چې جبعې
یا رامه ته ځانونه ورسوو او له دې دواړو ځایونو څخه په یو ځای
کې شپه تېره کړو.> ۱۴ نو هغوی روان شول او د لمر پرېواته په
وخت جبعې ته چې د بنیامین په سیمه کې وه ورسېدل. ۱۵ هغوی
د لارې څخه راوګرځېدل چې په هغه ځای کې شپه تېره کړي. مګر
هیچا نه غوښتل چې هغوی له ځانه سره د شپې تېرولو دپاره بوځي.
نو هغوی لاړل او د ښار په چوک کې کښېناستل.

۱۶ په همدې وخت کې یو زوړ سړی چې ټوله ورځ یې په پټي کې
کار کړی ؤ او کور ته روان ؤ راغی. په جبعه کې چې کوم خلک
اوسېدل، هغه زیاتره د بنیامین د قبیلې څخه وو، خو دا سړی په اصل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کې د افرایم د غرنۍ سیمې ؤ، خو په جبعه کې اوسېده. ١٧ هغه
سړي هغه مسافر د ښارګوټي په چوک کې ولیده او پوښتنه یې
ورڅخه وکړه: <له کوم ځای څخه راغلي یاستئ او چېرته روان
یاستئ؟>

١٨ لاوي په ځواب کې وویل: <مونږ د یهودا له بیت لحم څخه
راغلي یو او د افرایم د غرنۍ سیمې یو لېرې ځای ته چې مونږ په کې
اوسېږو روان یو. خو هیڅوک نه غواړي مونږ خپل کور ته بوځي چې
شپه ورسره وکړو. ١٩ مونږ د خپلو خرو دپاره بوس او پروړه او د
خپل ځان او خپلې ښځې او خپل نوکر دپاره ډوډۍ او شراب راوړي
دي. مونږ بل هیڅ شي ته ضرورت نه لرو بغیر له یو ځای څخه چې
په کې ویده شو.>

٢٠ هغه زاړه سړي وویل: <زه خپل کور ته ستاسو د راتللو هرکلی
کوم چې شپه راسره وکړئ او زما مېلمانه شئ. خو په چوک کې شپه
مه کوئ.> ٢١ نو هغه زاړه سړي هغوی خپل کور ته بوتلل او د
هغوی خره یې ماړه کړل. بیا هغوی خپلې پښې ومینځلې او ډوډۍ یې
وخوړله.

٢٢ په داسې حال کې چې هغوی خپل زړونه خوشالول، د
ښارګوټي ځینې بدکاره خلک د کور څخه راچاپېر شول. هغوی
دروازه په زور ووهله او د کور خاوند یعنې زاړه سړي ته یې غږ کړ:
<ستا کور ته چې کوم سړی راغلی دی هغه مونږ ته راوباسه چې بد
کار ورسره وکړو.> ٢٣ مګر د کور خاوند بیرون ووت او هغوی ته
یې وویل: <نه، زما دوستانو! داسې خراب او بد اخلاقه کار مه کوئ!

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا سړی زما مېلمه دی، داسې شرمونکی کار مه کوئ. ۲۴ ګورئ،
زه به تاسو ته خپله پېغله لور او زما د مېلمه وينځه راولم، هرڅه چې
غواړئ د هغوی سره يې وکړئ، مګر د دې سړي سره داسې شرمناکه
کار مه کوئ.> ۲۵ خو هغو خلکو د هغه خبرو ته غوږ ونه نيوه. نو
هغه لاوي خپله وينځه ونيوله او هغوی ته يې بيرون ورولېږله. هغوی
هغه بې عزته کړه او ټوله شپه يې ورباندې تېری وکړ او سهار يې
پرېښودله چې لاړه شي.

۲۶ د سباوون په وخت هغه ښځه بېرته راغله او د هغه کور په
دروازه کې چې د هغې مېړه په کې مېلمه ؤ ولوېدله او د سهار تر رڼا
کېدو پورې هلته پرته وه. ۲۷ سهار د هغې مېړه پاځېده او کله چې
هغه دروازه خلاصه کړه چې په خپله لاره لاړ شي، نو ويې ليدل چې
وينځه يې د دروازې په خوله کې پرته وه او لاسونه يې د دروازې په
درشل باندې ايښي وو. ۲۸ هغه خپلې وينځې ته وويل: >پاځېږه
چې لاړ شو.> مګر هيڅ ځواب يې وانه ورېده. بيا سړي د هغې
مړی په خپل خره باندې کېښود او کور ته روان شو. ۲۹ کله چې
کور ته ورسېده نو يو چاقو يې راواخيست او د خپلې وينځې مړی
يې دولس ټوټې کړ او د اسراييلو دولسو قبيلو ته يې يوه يوه ټوټه
ورولېږله. ۳۰ هرچا چې هغه ليدله نو ويل يې: >له کومې ورځې
چې اسراييليان له مصر څخه راوتلي دي داسې کار هيڅکله نه ليدل
شوی او نه شوی دی. مونږ بايد په دې باره کې فکر وکړو او خبرې
وکړو چې څه بايد وکړو.>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د بنيامينيانو سره د اسراييليانو جګړه

۲۰ ۱ بيا ټول اسراييليان په شمال کې د دان څخه په جنوب
کې تر بئرشبع پورې او همدارنګه د جلعاد د خاورې څخه په يوه
لويه غونډه کې په مصفه کې د څښتن په حضور کې سره راټول شول.
۲ د هغوی شمېر د پياده عسکرو او مشرانو سره څلور لکه تنه وو
چې په هغه ځای کې د څښتن په حضور کې د هغه د قوم په غونډه
کې حاضر وو. ۳ بنيامينيان خبر شول چې ټول اسراييليان په
مصفې کې سره راغونډ شوي دي. اسراييليانو د وژل شوې ښځې د
مېړه څخه پوښتنه وکړه: <مونږ ته ووايه چې دا ناوړه پېښه څنګه
رامنځته شوه.>

۴ هغه لاوي چې ښځه يې وژل شوې وه په ځواب کې ووېل:
<زه او زما وينځه جبعې ته چې د بنيامين په سيمه کې ده د شپې
تېرولو دپاره لاړو. ۵ د شپې د جبعې سړي زما پسې راغلل او
کور يې محاصره کړ. هغوی زما د وژلو نيت درلود، خو د دې په
ځای هغوی زما وينځه بې عزته کړه او هغه مړه شوه. ۶ ما د هغې
مړی راواخيست او هغه مې ټوټې ټوټې کړ او بيا مې د هغې هره ټوټه
د اسراييلو د دولسو قبيلو څخه هرې قبيلې ته ولېږله، ځکه چې د
جبعه سړيو په اسراييلو کې داسې سپک او شرمناکه کار کړی دی.
۷ اوس تاسو د اسراييلو ټول قوم بايد په خپله فيصله وکړئ چې
په دې باره کې څه وکړو!>

۸ ټول خلک يوځای پاڅېدل او ويې ويل: <زمونږ څخه به
هيڅوک خپلې خېمې يا خپل کور ته نه ځي. ۹ مونږ به داسې کار

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړو چې پچه به واچوو او په جبعې باندې د حملې دپاره به یو څو
نفره وټاکو. ۱۰ د اسراییلو د ټولو قبیلو څخه به د هرو سلو نفرو
څخه لس نفره لښکر ته ډوډۍ رسوي او نور دې لاړ شي او د جبعې
خلکو ته دې د هغه ناوړه کار په خاطر سزا ورکړي کوم چې هغوی
په اسراییلو کې کړی دی.> ۱۱ نو د اسراییلو ټول سړي د یو
مقصد دپاره سره راغونډ شول چې په ښارګوټي باندې حمله وکړي.

۱۲ اسراییلیانو د بنیامین د قبیلې ټولې سیمې ته استازي ولېږل چې
ورته ووايي: <تاسو ولې داسې جرم کړی دی؟ ۱۳ اوس د جبعې
هغه بدکاره سړي مونږ ته تسلیم کړئ ترڅو هغوی ووژنو او د
اسراییلو څخه دا بدي لیرې کړو.> مګر بنیامینیانو د خپلو نورو
اسراییلي ورونو خبرو ته غوږ ونه نیوه. ۱۴ هغوی د بنیامین د ټولو
ښارګوټو څخه راغلل او په جبعې کې سره راغونډ شول چې د
اسراییلیانو په مقابل کې جګړه وکړي. ۱۵-۱۶ په هغه ورځ هغوی
د خپلو ښارګوټو څخه شپږویشت زره عسکر راوغوښتل. برسېره
پردې، د جبعې اوسېدونکو اووه سوه خاص نفر چې چپ لاسي وو
وټاکل. د هغوی څخه هر یو د مچنوغزې په تیږه باندې د ویښته یو
تار هم ویشتلی شو او هیڅ شی ورڅخه نه خطا کېده. ۱۷
اسراییلیانو څلور لکه روزل شوي عسکر سره راغونډ کړل چې په
هغو کې بنیامینیان شامل نه وو.

۱۸ اسراییلیان په بیت ئیل کې د عبادت ځای ته لاړل او هلته یې
له خدای څخه پوښتنه وکړه: <کومه قبیله به اول په بنیامینیانو باندې
حمله کوي؟>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ثښتن په ځواب کې وویل: <د یهودا قبیله.>

۱۹ سبا سهار وختي اسراییلیان روان شول او د جبعې ښارګوټي ته
نژدې یې خېمې ودرولې. ۲۰ هغوی لاړل چې د بنیامین په لښکرو
باندې حمله وکړي او جبعې ته مخامخ یې د جګړې دپاره سنګرونه
ونیول. ۲۱ د بنیامین لښکر له ښارګوټي څخه راووت او په هغه
ورځ یې د جګړې په ډګر کې دوه ویشت زره اسراییلیان ووژل.
۲۲-۲۳ نو اسراییلیان د عبادت ځای ته لاړل او تر ماښامه پورې
یې د ثښتن په حضور کې وژړل. د هغه څخه یې پوښتنه وکړه: <آیا
مونږ بیا لاړ شو او د خپلو بنیامیني ورونو په مقابل کې وجنګېږو؟>

ثښتن په ځواب کې وویل: <هو.>

نو د اسراییلو لښکرو جرأت پیدا کړ او بیا یې خپل عسکر په هماغه
ځای کې چې یوه ورځ مخکې په کې وو ځای په ځای کړل. ۲۴ نو
اسراییلیان د دوهم ځل دپاره ووتل چې د بنیامینیانو د عسکرو په
مقابل کې وجنګېږي. ۲۵ په هماغه ورځ بنیامینیان د جبعې څخه
راووتل او دا ځل یې اتلس زره روزل شوي اسراییلي عسکر ووژل.
۲۶ بیا د اسراییلو ټول خلک بیت ئیل ته لاړل او هلته یې وژړل.
هغوی د ثښتن په حضور کې کښیناستل، تر ماښامه پورې یې روژه
ونیوله او ثښتن ته یې سوزېدونکې او د سلامتۍ نذرانې وړاندې
کړې. ۲۷-۲۸ په هغو ورځو کې د لوظ صندوق په بیت ئیل کې ؤ
او فینحاس چې د العازار زوی او د هارون لمسی ؤ، په هغه ځای کې
کاهن ؤ. اسراییلیانو له ثښتن څخه پوښتنه وکړه: <آیا مونږ بیا لاړ
شو او د خپلو بنیامیني ورونو سره وجنګېږو او که نه؟>

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څښتن په ځواب کې وویل: <هو، لاړ شئ. زه به سبا تاسو ته په
هغوی باندې برى درکړم.>

٢٩ نو اسراییلیانو د جبعې په شاوخوا کې کمین ونیوه. ٣٠ په
درېمه ورځ هغوی د بنیامینیانو په مقابل کې ووتل او د مخکې ځل په
شان یې خپل عسکر جبعې ته مخامخ ځای په ځای کړل. ٣١
بنیامینیان د هغوی سره د مقابلې دپاره راووتل. اسراییلیان په شا لاړل
او بنیامینیان د هغوی پسې شول او د ښار څخه لرې شول. هغوی د
مخکې ځل په شان د اسراییلیانو په وژلو پیل وکړ. په بانډو او په هغو
لارو باندې چې بیت ئیل او جبعې ته تللې وې، دېرش تنه اسراییلیان
ووژل شول. ٣٢ بنیامینیانو وویل: <مونږ هغوی ته د مخکې ځل په
شان ماتې ورکړه.>

مګر اسراییلیانو داسې پلان جوړ کړی ؤ چې په شا لاړ شي او هغوی
د ښارګوټي څخه لارو ته وباسي. ٣٣ نو کله چې د اسراییلو اصلي
لښکر په شا شو او په بعل تامار کې بیا سره راغونډ شول، نو هغه
اسراییلیان چې د جبعې په لوېدیځ کې په کمین کې پټ وو د خپلو
ځایونو څخه په منډه راووتل. ٣٤ لس زرو خاصو نفرو چې د ټولو
اسراییلو څخه غوره شوي وو په جبعې باندې حمله وکړه او جګړه
ډېره سخته وه. بنیامینیان نه پوهېدل چې د هغوی بربادي نژدې ده.
٣٥ نو څښتن د اسراییلو سره مرسته وکړله چې بنیامینیانو ته ماتې
ورکړي. په هغه ورځ اسراییلیانو پنځه ویشت زره او سل تنه ووژل.
٣٦ نو بنیامینیان پوه شول چې هغوی ماتې خوړلې ده.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د اسراییلیانو د جګړې ګټل

د اسراییلیانو د لښکرو اصلي ډله د بنیامینیانو څخه بېرته په شا لاړله،
ځکه چې هغوی په خپلو نفرو باندې چې د جبعې په شاوخوا کې یې
کمین نیولی ؤ تکیه درلودله. ۳۷ بیا هغو نفرو چې په کمین کې وو
له هرې خوا څخه په جبعې باندې حمله وکړه او د هغه ښارګوټي ټول
اوسېدونکي یې ووژل او ښار ته یې اور واچاوه. ۳۸ د اسراییلو
اصلي لښکر او هغه پټ شویو نفرو په خپل منځ کې یوه نښه ټاکلې
وه. کله چې هغوی زیات لوګي ولیدل چې د ښارګوټي څخه پورته
کیږي، ۳۹ نو کوم اسراییلیان چې د ښارګوټي څخه دباندې وو هغه
به راګرځي او په بنیامینیانو باندې به حمله کوي. تر دغه وخته پورې
بنیامینیانو دېرش تنه اسراییلیان وژلي وو. هغوی له خپلو ځانونو سره
ویل: <هو، مونږ هغوی ته د مخکې ځل په شان ماتې ورکړه.> ۴۰
خو کله چې بنیامینیانو شاته وکتل او ویې لیدل چې د ښارګوټي له هر
طرف څخه اسمان ته لوګی پورته کیږي، ۴۱ نو بیا اسراییلیان
راوګرځېدل او په هغوی باندې یې حمله وکړه. بنیامینیان پوه شول
چې یوه بلا ورباندې راتلونکې ده نو هغوی وارخطا شول. ۴۲
هغوی د اسراییلیانو څخه په شا لاړل او د دښتې خواته په منډو
شول، مګر ویې نه شو کولی چې وتښتي. هغوی د اصلي لښکر او
هغو نفرو ترمنځ راګیر شول چې د ښارګوټي څخه راوتل، نو هغوی له
منځه لاړل. ۴۳ اسراییلیانو بنیامینیان محاصره کړل او په دوامداره
توګه یې د جبعې تر ختیځه پورې تعقیب کړل او په لاره کې یې
ووژل. ۴۴ د بنیامینیانو اتلس زره زړور عسکر ووژل شول. ۴۵
هغه نفر چې ژوندي پاتې وو هغوی په دښته کې د رمون د ګټ په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لوري وتښتېدل، خو اسراييليانو په لاره باندې د هغوی پنځه زره تنه
ووژل. هغوی تر جدعوم پورې د بنيامينيانو پسې شول او دوه زره تنه
يې نور هم ووژل. ۴۶ په هغه ورځ د بنيامينيانو پنځه ويشت زره
نفر ووژل شول. هغوی ټول زړور عسکر وو.

۴۷ خو يوازې شپږ سوه تنو وکولی شول چې په دښته کې د رمون
ګټ ته وتښتي او څلور مياشتې هغوی هلته پاتې شول. ۴۸
اسراييليان د پاتې بنيامينيانو پسې راوګرځېدل او هغوی ټول يې د
سړيو، ښځو، ماشومانو او حيواناتو سره ووژل او په هغه سيمه کې يې
ټول ښارګوټي وسوزول.

## د بنيامينيانو دپاره ښځې

٢١ ۱ په هغه وخت کې چې اسراييليان په مصفه کې سره
راغونډ شوي وو هغوی داسې قسم خوړلی ؤ: <زمونږ څخه به
هيڅوک خپله لور بنيامينيانو ته په نکاح نه ورکوي.> ۲ نو د
اسراييلو قوم بيت ئيل ته لاړ او هلته تر ماښامه پورې د خدای په
حضور کې کښېناستل. هغوی په لوړ اواز سره سخت وژړل ۳ او
ويې ويل: <ای د اسراييلو څښتن خدايه، د اسراييلو سره ولې داسې
وشول؟ د بنيامين قبيله ولې د اسراييلو له منځ څخه ورکه شي؟>

۴ بله ورځ سهار وختي خلکو د قربانۍ ځای جوړ کړ او
سوزېدونکې او د سلامتۍ نذرانې يې وړاندې کړې. ۵ بيا هغوی د
يو او بل څخه پوښتنه وکړه: <د اسراييلو له ټولو قبيلو څخه داسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کومه ډله شته چې د مصفې په غونډه کې د څښتن په حضور کې نه
وه حاضره شوې؟> (هغوی په کلکه دا قسم خوړلی ؤ چې هرڅوک
چې په مصفه کې د څښتن په حضور کې حاضر نه شي، هغه دې
ووژل شي.) ۶ نو د اسراییلو خلکو د خپلو بنیامیني ورونو دپاره
افسوس کاوه او ویل به یې: <نن اسراییلو د خپلو قبیلو څخه یوه
قبیله له لاسه ورکړه. ۷ اوس د هغو بنیامینیانو دپاره چې ژوندي
پاتې شوي دي څه وکړو چې د هغوی دپاره ښځې پیدا کړو؟ ځکه
چې مونږ د څښتن په نوم قسم خوړلی دی چې خپلې لورګانې به
هغوی ته نه ورکوو.>

۸ کله چې هغوی پوښتنه وکړه: <آیا د اسراییلو د قبیلو څخه
کومه ډله د مصفې په غونډه کې حاضره شوې نه وه؟>، هغوی ته
معلومه شوه چې د یابیش څخه چې په جلعاد کې دی هیڅوک نه ؤ
راغلی. ۹ ځکه کله چې هغوی خلک وشمېرل، نو ورته معلومه
شوه چې له یابیش جلعاد څخه هیڅوک هلته نه ؤ. ۱۰ نو غونډې
خپل دولس زره زړور نفر ولېږل او هغوی ته یې دا حکم ورکړ: <لاړ
شئ او د یابیش ټول خلک د ښځو او ماشومانو سره ووژنئ، ۱۱
ټول نارینه او همدارنګه هغه ټولې ښځې چې پېغلې نه وي ووژنئ.>
۱۲ هغوی د جلعاد په یابیش باندې حمله وکړه او د څلور سوه
پېغلو سره چې هلته یې پیدا کړې وې د شیلوه کمپ ته چې د کنعان
په خاوره کې ؤ راستانه شول.

۱۳ بیا ټولې غونډې هغو پاتې بنیامینیانو ته چې د رمون د ګټ سره
اوسېدل، یو پیغام ولېږه او هغوی ته یې د سولې وړاندیز وکړ. ۱۴ نو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بنیامینیان بېرته راغلل او اسراییلیانو هغوی ته د یابیش هغه انجونې
چې ژوندی پاتې شوې وې ورکړې. خو دا انجونې د هغوی ټولو
دپاره بس نه وې.

۱۵ د اسراییلو خلک په بنیامینیانو باندې ډېر خفه وو ځکه چې
څښتن د هغوی د قبیلو ترمنځ تشه پیدا کړې وه. ۱۶ نو د غونډې
مشرانو وویل: <د بنیامین د قبیلې ټولې ښځې وژل شوې دي. نو څه
باید وکړو چې د هغوی پاتې سړیو ته ښځې پیدا کړو؟ ۱۷ پاتې
ژوندي بنیامینیان باید وارثان ولري، ترڅو د اسراییلو یوه قبیله د تل
دپاره له منځه لاړه نه شي. ۱۸ مونږ نه شو کولی چې خپلې
لورګانې هغوی ته ورکړو، ځکه چې مونږ قسم خوړلی دی چې
هرڅوک چې بنیامینیانو ته لور ورکړي په هغه باندې دې لعنت وي.>

۱۹ بیا هغوی دا فکر وکړ چې په شیلوه کې د څښتن دپاره کلنی
جشن نیول کیږي. (شیلوه د بیت ئیل په شمال او د لبونه په جنوب
کې او د هغې لارې په ختیځ کې ده چې د شکیم او بیت ئیل ترمنځ
ده.) ۲۰ هغوی بنیامینیانو ته وویل: <لاړ شئ او د انګورو په
باغونو کې پټ شئ ۲۱ او هلته انتظار وباسئ. کله چې د شیلوه
نجونې د جشن په دوران کې د نڅا دپاره بیرون راووزي، تاسو د
انګورو له باغونو څخه راووزئ او د هغو څخه هر یو خپلو ځانونو ته
یوه یوه نجلۍ په زور راونیسئ او له ځان سره یې د بنیامین خاورې
ته بوځئ چې ستاسو ښځې شي. ۲۲ که چېرې د هغوی پلرونه او
ورونه تاسو ته راشي او اعتراض وکړي، نو تاسو کولی شئ چې
هغوی ته داسې ووایئ: مهرباني وکړئ مونږ ته اجازه راکړئ چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی وساتو، ځکه چې مونږ هغوی د جنګ په دوران کې له تاسو
څخه نه دي نیولې چې زمونږ ښځې شي. څرنګه چې تاسو هغوی
مونږ ته نه دي راکړې، نو تاسو د خپل قسم په ماتولو ګناهکار نه
یاست.>

۲۳ بنیامینیانو همداسې وکړل. هغوی هر یو له هغو نجونو څخه چې
په شیلوه کې یې نڅا کوله یوه یوه نجلۍ د خپل ځان دپاره راونیوله او
هغوی یې خپلې سیمې ته یوړې. بیا هغوی خپل ښارګوټي بېرته آباد
کړل او هلته اوسېدل. ۲۴ نو اسراییلیان هم هر یو بېرته خپلې
قبیلې، خپلې کورنۍ او خپلې ځمکې ته لاړ. ۲۵ په هغه زمانه کې
اسراییلو پادشاه نه درلود، نو هرچا به هغه کارونه کول چې زړه یې
غوښتل.

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © د ختیځ افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.